ناول

saraab library



# بغاوت

که‌ د ناسمو غوښتنو، کړنو او بلها نورو ستونزمنو لارو

پر وړاندې د مبارزې فکر لرئ، نو بغاوت ولولئ!

لیکوال: محمد خان ذهین

کال: ۱۳۹۹

ناول

د سراب کتابتون له لوري خپور شو.
https://t.me/saraablibrary

# بغاوت

لیکوال: محمدخان ذهین

د کتاب ځانګړني:

د کتاب نوم: بغاوت (ناول)

لیکوال: محمد خان ظهین (0791997120)

Fb:Muhammad khan Zaheen

کمپوز او ډیزاین: منصور فیصل

پښتي ډیزاین: رحمت الله محمد

چاپ شمېر: ۱۱۰۰ ټوکه

چاپ کال: 2021 ز

چاپ وار: لومړی

خپرندوی: روغانیوال خپرندویه ټولنه

https://t.me/saraablibrary

د چاپ حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي

د ګڼلاسه کولو پته:

روغانیوال خپرندویه ټولنه اسحاقزي مارکیټ ...

د اړیکو شمېره: ۰۷۸۷۸۴۰۳۰۲/۰۷۹۴۰۰۴۰۲۹/۰۷۹۴۰۰۴۰۲۹/۰۰۰۳۳۶۶۹۲

# ډالۍ

خپلو ټولو ملګرو، دوستانو او خپلوانو ته!

ټولو هغو مبارزو فکرونو ته، چې تل یې د ناروا غوښتنو، کړنو، دودونو او رواجونو پر وړاندې نه ماتېدونکې دریځ خپل کړی.

او پای کې هم، تاته چې دا ناول د یو مثبت فکري بدلون لپاره لولې.

**م. ذهین**

## د بغاوت په اړه څو کرښې

که وګورو، نو په دې وروستیو کې د پښتو داستاني ادب لمن ورځ تر بلې د غوړېدو خنډې پراخوي او هره اوونۍ هلته - دلته د داستاني ادب یو کتاب خامخا له چاپه راوځي، چې زیاتره یې ځوان لیکوال راپنځوي او یا یې له نورو ژبو را ژباړي چې په دې برخه کې د پښتو ادب پانګه لا پسې پانګمنه او غني کېږي. همدا به د پښتو ادب نیکمرغي وبولو، خو لا ډېر کار او پنځ ته اړتیا ده.

د پښتو داستاني ادب په دغو ځوانو لیکوالو او پنځګرو کې یو هم محمدخان ذهین دی، چې د خپل آر مسلک ژورنالېزم تر څوا وخت پر وخت په اړینو موضوعاتو ډېر ښه او غوره ناولونه د قلم په څوکه کرښې - کرښې راپنځوي، چې دا یې په ټوله کې پنځم کتاب او په ناولونو کې یې درېیم چاپ ناول دی. دی لا بیخي تاند ځوان دی او هیله ترې کېدای شي چې په دې برخه کې خپلې داستاني تجربې وخت پر وخت را څرګندې کړي.

د ده ناولونه د موضوع او منځپانګې له پلوه ټولنیزې ناخوالې، ناوړه سیمه ییز دودونه او د هغوی بدې پایلې رانغاړي.

دا هغه ستونزې او دردونه دي چې له امله یې زموږ د ځوانانو ملګانې کړېږي او سخت یې ربړوي؛ یعنې د ناولونو کرکټرونه یې زیاتره د ټولنې محروم او خپلې ځوانان او پېغلې دي.

دا رښتیا هم ده چې زموږ په ټولنه کې داسې ډېر حاکم ناوړه دودونه خپل راج او واک چلوي چې ډېرې ستونزې یې رازېږولي دي. که پښتني چاپېریال او سیمو ته وګورو، نو د قبیلوي او سیمه ییزو دودونو له مخې مینې او مینېدل په کې بد ګڼلای شي او مینان په کې د ملامتي پېټي په سرونو او اوږو بار ګرځوي او یا د مرګ په سزا د ملامتي پور لندوي، خو بیا په کې داسې مینان هم تېر شوي او یا راپیدا شي چې له دې هر څه یې دواړه پښې ویستلي او یا یې وباسي. ښه پخه مینه یې کړې وي او په دې مرګجنې او تاوجنې لار یې پښې پولې -

پولي شوي، ډېرې ربړې او کړاوونه يې ګاللي دي چې موږ يې په ولسونو کې پېلګې لېدلای شو او يا يې وينو.

د بناغلي ذهين (بغاوت) ناول هم پر همدغسې يوې داستاني موضوع راڅرخي.

همدې ته په کتو يوه ښه هڅه يې دا ده چې د خپلو ناولونو له محتوا او منځپانګې سره سم ورته غوره نوم ټاکي؛ يعنې د ناول له محتوا سره سم يو ښهٔ نوم ورته انتخابوي. دا ځکه چې د داستاني ادب د هر ډول ژانر او خپل لپاره ښه او غوره نوم ټاکنه له هرڅه اړين برېښي چې لوستونکی يې لوستو ته په مينه - مينه رابولي او هغه هڅوي چې تر پايه يې ولولي.

بله خبره داده چې ناول ليکنه خپله ځانګړې داستاني ژبه لري، دا ځکه چې د هنر خوږلني او شاعرانه رنګونه په کې په خورا مهارت سره ورګډېږي او بيا د تلوسې په مرسته لوستونکی ورو- ورو ځان سره بيايي، تر هغو چې منزل ته يې ورسوي او هم يو پيغام يې په ذهن کې ورپيچکاري کوي.

همدغه ځانګړنې د ښاغلي ذهين صاحب په ناولونو کې په ځپو ښکاري. دا هغه ښې ځانګړنې دي چې داستاني نثر ته يو ډول طبعي رنګ او خوږلت وربښي.

د پايلې په توګه بايد ووايو چې ښاغلی ذهين د يو ځوان ليکوال په توګه پښتو داستاني ادب ته ښه موضوعي ناولونه وربښلي دي او په هر ناول کې يې د خپلې ټولنې او چاپېريال د محرومو او ځپلو خلکو انځورونه په هنري لفظونو او کلماتو کې رانغاړلي او د ځينو ناوړه دودونو پر وړاندې يې د بغاوت ناره په داستاني بڼه کړنګولې ده.

زه ورته مبارکي وايم او تاسې يې لوستو ته رابولم.

درنښت

**پوهنيارعبيدالله اغبز**

**بهسود**

# د بغاوت، لوړې ژورې

ناول د هغو دوو میینانو په کیسه راڅرخي چې یو بل ته د رسېدو لپاره لکه په وچ تړنګ غره کې د لارې ایستلو په نیت د لاسو خواري؛ د دودونو په زنځیرونو تړلې او ایساره ټولنه کې د مینې د ازادۍ دا مبارزه د پانې او پړانګ تر منځ د بند پاتې کیسه ده، خو اخر یې هم وګټله او "د میینانو جونګړه" یې اباده کړه.

د دې ناول ارزښت په دې کې دی چې د یوې داسې مسلې اړخونه پکې سپړل شوي چې په پښتني ټولنه کې یې د فردي ازادۍ پر وړاندې خنډونه سپړلي.

پښتون زلمي او پېغلې ته لا هم د ژوند د ګډ ملګري په خپله خوښه د ټاکنې واک نشته اطرافي سیمو کې ډېر یې ایله د واده په شپه یو بل لیدلی شي.

په ناول کې کیسه د ملا تیر بلل کېږي، ځکه نو ادیبان یې په موندلو کې د سوچ او دقت سپارښتنه کوي، په اول سر کې مې یاده کړه چې کیسه یې جالبه ده.

پلاټ او کرکټرونه یې هم ښه ټاکلي.

ذهین صیب د ناول پیل ښکلی کړی، که څه هم د دوو نالیدلو میینانو په ژوند او پېښو تمېږي، خو په دغه حالت کې یې د مینې په نوم د یوې بلې جوړې د انجام کیسه کړې او خلک هیښوي چې ګنې د لوستي ذیشان او سلګۍ د یارانې انجام به څه کېږي.

زه به ددې ناول په ژبه، مکالمو او تصورونو لږ تم شم.

که څه هم ناول د لوستو خلکو لپاره لیکل کېږي او لیکوال یې باید دې اړخ ته ډېر پام وکړي، خو یوه خبره باید له یاده ونه باسو چې څومره یې ساده لیکلی شو، ځکه دا ناول د یوې کلیوالې سیمې د ژوند تصویر دی.

داسې مکالمې پکې وکاروو چې عام فهمه وي، د لفظونو تصویرونه یې هم باید کلیوالي وي چې لوستلونکی یوې کلیوالې سیمې ته بوځي او د هغه ځای په کوڅو وګرځي.

مثلاً ما ایراني لیکوال ربیع انصاري ناول پښتو بڼه (( پاڼه ورژېده )) لوستلی چې ښکړه لیکوال او ژورنالیست صالح محمد صالح ژباړلی، ژباړه یې دومره خوږه شوې وه چې زه یې د ایران په نالیدلو ښارونو او کوڅو گرځولم.

په دې ناول کې هم ځینې داسې مکالمې او تصویرونه شته دي چې لوستونکی په خیالي قدمونو یوې ځانگړې سیمې او حالت ته وړي او د هنر تنده پرې ماتېږي.

مثلاً((نجونې د تبسم پر مزار د پرتو خاورو ډېرې ته ودرېدلې.

همزولو ته د دود خپلې تبسم تېرې شوخۍ او اوسنۍ خاموشۍ سخت درد ورکړ...))

دا د مینې او عاطفې ناول دی نو د هنر تومنه پکې زوروره بڼه ده.

ځینې تصویرونه پکې د سړي زړه ته کېوځي او هغسې یو حالت یې سترگو ته ودرېږي.

لکه سلگۍ چې د ذیشان له ترور کره ورغلې، ذیشان د خپلې ترور په کاله کې دی، خو سلگۍ یې فکر هم نه کاوه چې گنې نالیدلی میین به یې د همدې کور په یوه خونه کې وي، نو د ذیشان د غږ په اورېدو سلگۍ حیرانېږي.

((سلگۍ په خپلې خولې له وارخطایۍ ډک لاس کېښود:

هاآآ خاله!

تا خو ټوکې نه رښتیا ویل کنه!

دا د ذیشان غږ وو!! ...))

نجونې رشتیا هم د دغسې هیجانی پر وخت پر خپله خوله لاس ږدي، نو دا یو داسې تصویر دی چې لوستونکی یوې صحنې ته بیایي.

یا دا جمله چې ((سلگۍ د اسویلي په تار زړې خبرې وگنډلې او اوږده ساه یې واخېسته)) بیخي ښکلې له معنا ډکه او هنري وه.

ځینې کرکترونه یې هم جالب دي، لکه د ذیشان خوب چې خپله نالیدلې معشوقه پکې گوري.

سړی له یوې صحنې بلې ته بیایي.

ذیشان په خوب کې بل ډول تصور کوي، له ونې لنده او یې خونده، مینه یې، خو وروسته ښکاره شي چې دا یو خوب و.

د ذیشان لیکونه جالب وو، د سړي پرې د هنر تنده ماتېږي چې خپل درد یې له خپلې او سلګۍ له کورنۍ سره شریک کړی و.
دا د ذهین صیب د ناول لیکنې لمړنۍ هڅه نه ده، تر دې وړاندې یې دوه نور ناولونه هم چاپ دي، خدای دې یې نور هم توفیق ورکړي.
زه د یو لوستونکي په حیث دې ناول کې خینو مسایلو ته متوجه شوم.
چون زه ځان ته دا حق نه ورکوم چې د ذهین صیب په ناول نقد وکړم، خو که یو څه لیکم نو راتلونکي ته د سمون په خاطر یې کوم.
په ناول کې تر ژبه تر ډېره سخته کارول شوې، یعنې هنري خواږه یې کم دي.
زه به یې یو څو مثالونه ولیکم، هڅه کوم لیکنه مې ډېره اوږده نه شي.
ذهین صیب یو ځای لیکي چې ((د پلار یې تندي سربېره د مخ ټوله جغرافیه ګونځې او تغیر شوه.
لا نور په قهرجن انداز یې لور ته وروکتل:
چُپ شه نجلۍ!))
دلته غواړم لږ تم شم.
دا جمله ډېره شواره او مخدې ده.
د مخ جغرافیه یې لا څه معنا؟
لا نور په قهر جن انداز؟
دا سمه ده چې ذهین صیب جملې د هنري کېدو هڅه کړې، مګر بې خونده کړې یې ده.
همدې کفایت کاوه چې (( پلار یې تندی ترش کړ او په قهرجن انداز یې لور ته وکتل، جینۍ چپ شه!))
د مخ جغرافیې او بې ځایه اوږدو جمله مخدې او بیکه کړې ده.
موږ چې په ناول کې څومره عامه او لږ څه هنري ژبه وکاروو نو لوستونکی جلبولی شي.
یا دا جملې چې ((دوی په همدې خبرو کې لږ نور وخت هم تېر کړ، چې د ذیشان د عمه دروازه د ګوتو په نازکو څوکو ټک - ټک شوه.

د (خاله کور کې یې!) غړ په کولو د سلګی نازک زرکین غړ د ذیشان تر غوږونو ورسېد، خو دا چې له وړاندې یې د سلګی غړ نه و اورېدلی، ډېر پرې زیر نه شو او خپلې عمه ته یې د ورتګ خبره وکړه.))

په لومړۍ جمله د ذیشان د عمه د کور دروازه ټکېږي، خو لیکوال وایي د ناڅکو ګوتو په څوکو؟

دروازه د ګوتو په څوکو نه ټکېږي، همدې کفایت کاوه چې لیکلي یې وای(( د ذیشان د عمه د کاله دروازه وټکېدله، بس و.

یا په دې بله جمله کې ((د سلګی زرکین غړ))

ما د زرکې په اړه لوستي او اورېدلي چې د زرکې سترګې ښکلې وي، غړ یې ډېر ښکلی نه دی. که یې ویلي وای دا غړ د دسلګی و، همدمره یې بسنه کوله.

یو بل ځای لیکي چې ((تر پخوا لا ډېر ترخه یې د سلګی ورور ته وکتل او د زړه خبرې یې په خولې باندې لبریز شوې...)) لبریز د فارسي کلیمه ده او په پښتو کې عامه هم نه ده، خو اړتیا نشته چې پېچلي لغات او کلیمې پکې راوړو، خکه زموږ لوستونکي یوازې ادیبان نه دي، عام باسواده خلک هم دي.

خلک ستا د پېچلو لغاتونو په معناوو پسې نه شي ګرځېدلی او لبریز داسې هنري کلیمه هم نه ده چې ګنې په خلکو خوږه ولګي.

ډېر نور مثالونه هم شته، خو زه ما یې همدا څو نمونې راواخیستې.

او رشتیا د کرکټرونو په تسلسل کې هم ستونزه شته.

د ناول په اول سر کې یو ځای وایي چې دا دواړه نا لیدلي میینان وو.

عجیبه ده،

دا څنګه میینان دي چې نه یې یو بل لیدلي او نه یې د یو بل په اړه اورېدلي، خو بس په یو بل میینان دي.

که د ناول په پلاټ کې دا ځای شوي وای چې چرته په لاره کې یې دا جینۍ لیدلې، یا دواړو یو بل ته د سترګو په کونجونو کې کتلي وای نو سړی به یې یقین کړي، مګر له منطقي اړخه ددې خبرې منل ګران دي.

په هر صورت یو ځای وایي چې جینۍ د یوې خپلوانې د واده لپاره کوټ جوړاوه او دا خبره یې د ذیشان عمه ته وکړه نو چې په داسې قیدګیره تولنه کې ژوند کوي، بیا څنګه په نارینه دغسې کوټ ګنډي.

یو بل خای بیا وایي چې د فیسبوک له لارې یې هم مسیجونه کول.
په ناول کې د منطقي تسلسل او همدا شان له واقعیت سره نږدېوالي هم ضروري دی.
په ډېرو ځاویونو کې د سړي فکر شیندي.
کتاب ځینې لیکنی او ګرامري ستونزې هم لري، خو باوري یم چې وروستي ځل کتو سره به یې حل کړي
زه ډېره تصبره نه کوم، ځکه پرېږده چې لوستونکي ناول ولولي او خوند ترې واخلي.
خو دا څه مې ددې لپاره ولیکل چې که ذهین صیب په راتلونکې کې دغه ډول څه لیکي نو د یو کشر ورور او قلمي ملګري په حیث مې ورته سپارښتنه ده چې دغو مسایلو ته متوجه اوسي.
زه ذهین صیب او د هغه ملګرو ته ددې ناول مبارکي وایم او هېله لرم چې یوه ورځ یې د کتاب په بڼه راډالی کړي.

**په ډېر درناوی.**

**د اګست ۱۱ نېټه ۲۰۲۰**

**جلال اباد- امریکا غړ سیمه ییز دفتر**

## د بغاوت لپاره خپلې خبرې

نړۍ، طبعیت او په کې اوسېدونکي ځیزونه ټول یو ډول د دوراني ژوند درلودونکي دي.

دا ژوند یواځې د ځانګړنو او مهال له مخې توپیر کوي.

د ځینو عمر اوږد خو د ځینو نورو بیا لکه د ژمي مازیګر یوه لمحه وي.

د ژوند کولو بڼه هم دوه ډوله ده، ځینې یې د ځان او ځینې یې د نورو لپاره کوي.

د نورو لپاره د ژوند تېرولو لارې هم بیا جلا دي. یو یې د مینې او اخلاص څخه او بل یې له چاپلوسۍ او غلامۍ نه سرچینه اخلي.

چاپلوسان او غلام فکره چې له وخت سره سازش وکړي، سر ټیټي شي.

دوی هر چاته د موقف او شخصیت ساتلو یا پاللو لپاره نرمه غاړه وړي، چې د نورو په خوښې تلو کې یې ژوند د نورو په اشارو تر ډېره بریده پیکه درومي.

خو بل لور بیا یوه بله ډله موجوده وي، چې تل د بدو پر وړاندې سرکشه کېږي او د ناروا کړنو او غوښتنو په غبرګون کې د بغاوت لاره اختیار کړي.

د دغې ناول داستان هم د همداسې یوې جوړې د ژوند کیسه ده.

دا یواځې مینه نه ده، چې فکرونه دې په همدې اډانه کې محدود شي.

دا لکه ترخه ګولۍ چې په خوړو کې نغاړل کېږي او بیا له مرۍ پټه تېرېږي.

لومړیو کې د قلم په ژبه د دغې داستان په اړولو زړه_نازړه وم؛ ځکه دا د مینې کیسې ګڼداې شي زموږ ځوان نسل د وران فکرۍ او له دیني اصولو سرغړونې ته لېوال کړي، خو چې کله مې د ملګرو مشورې او په ناول کې

شته نکتې ښه په خیر له فکره تېرې کړې، پوهـ شوم چې دې وخت کې د دې ناول چاپ د ډېرو ټولنو او ځوان نسل لپاره کیمیا ګڼدای شي.

بهتره دا ده چې له دې ناول څخه د نارواوو پر وړاندې درېدنه او خپلې موخې ته په ښه ډول رسېدنه زده شي .

نور خو له لیکنې د مفهوم او مانا اخیستو په اړه ما د (زر خبرې) کتاب کې هم ویلي، چې د لیکوال لیکنه لکه غوړېدلی دسترخوان، هر سړی ترې د خپلې ګېډې تر کچې یو څه واخلي.

پای کې راسره دفتر کې له کارکوونکو او له دفتره بهر شخصي ژوند کې له ټولو ملګرو او دوستانو مننه کوم، چې په ګډه یې ناول کې د نیمګړتیاوو په کتنه او سمونه کې شته تشې را ډکې کړې .

په دې هیله چې د ناول له لوستلو وروسته د ناهیلي اوسني خیالونه د مبارزې په ځواک ختم او د موخو پروړاندې شته خنډونه او د دودونو ناسم دېوالونه په اسانۍ ونړوئ.

**مینه ناک او عزتمند اوسئ!**

**درنښت**

**محمدخان ذهین**

**د ژوندون راډیو تلویزیون خبرخونه**

له ښاره لرې په کلي کې یوځای اوسېدل، خو په یو بل څه چې په هېچا یې کار نه لاره.

ذیشان په پوهنتون او سلګی په لسم ټولګي کې وه. دوی که غریبان خو ځېرې یې په ښکلاوو کې مالدارې وې. ځوان د پوهنتون ترڅنګ د خیاطی دوکان درلود، چې ډېر کله به له پوهنتونه وروسته په کې په چارو بوخت وو.

په دې کلي کې څو ورځې وړاندې د دوه مینانو روحونه له جسدونو جلا او ژوند ته یې له دې امله چاره ونیول شوه، چې د غوښتلو پرمهال یې کورنۍ د یو بل پر خوښې خبرې او د یوځای والي پر وړاندې یې د خپل دود پولې وساتلې.

دلته داسې پَل اخېستونکي د دودیزو زولنو له امله د خپل انتخاب له پایلو خبر وو، خو کېدای شي دوی ته د سپور فکرو په کلي کې د سرونو له قیمته د یو بل ګرانښت ډېر ارزښت درلود.

له شوې پرېکړې داسې برېښېده، چې په عقل ړندو کې له جلا اوسېدو نه یې د غاړې - غړۍ مرګ غوره ګڼلی؛ له همدې امله یې کېدای شي وړاندوینه دا وه، چې ممکن په دې پرېکړې ځانونه د یو بل پر مینې ماړه کړي.

د مرګ پر بستر د پرتې پېغلې ښایست شغلې کولې، خو له دود څخه د بغاوت له امله ورته د هېچا زړه له تله خړیکه نه کوله.

هر یو به خپلې سترګې په تور نظر ترې واړولې.

د زړې نیا یې هم چې ځوانی کې خپله ټاکنه د دود ښکار شوې وه، د خپلې لمسی کمسی یې په ویرجنې ځېرې خلاصولې.

په کتو به یې چغه او په چغه به یې زړه باندې تیاره شوه.
د دې ځای دود له ښاره ډېر بدل وو. دلته خلکو زړونه د پښو لاندې دَل کول. په خپلې خوښې د ژوند تاکونکي اړ ول، چې د کلي پېغورونه او د ناړامه خلکو زورونه پر ځانونو وزغمي.
دلته پر خپل انتخاب او ټاکنې روانېدل انسان ته ډېر گران وو. نه یې شول کولی، چې په راحت او عزت سره شپې سبا کړي.
په خپلې خوښې د ژوند ملگري ټاکلو پر وړاندې درېدنه د دغې کلي دود گرځېدلی وو، خو دا لومړی وار وو چې یوې جوړې د دغې دود پر وړاندې ځانونه تر غرغرې ورسول.
په دې ورځ د کلي لمر تندر نیولی ښکارېده.
د لسم ټولگي متعلمه سلگۍ هم د خپلې مور سره یوځای د دې نادرې پېښې لیدو ته ورغله.
چا ژړل او چا د حېرانۍ خاموشي اختیار کړې وه.
چا په دوی او چا یې کورنیو باندې پړې اچولې. سلگۍ د دغې حالت په لیدو فکرونو کې ډوبه لاړه. ډېر وخت همداسې زبون وهلې ولاړه وه. یواځینۍ نجلۍ مینه د سلگۍ ټولگیواله وه، چې دا یې درک کوله او په فکرونو کې یوځای ورسره مله وه.
له لږې نندارې وروسته یې سلگۍ له لاسو نیولې په کراره په خبرو شوه:
زموږ دنیا لکه د غمونو او زندانو پانډوس، یواځې تکلیفونو لپاره جوړه شوې.
دلته د ادب مطلب بیخي عجب دی.

همدا پر تخت پرته تبسم چې نن یې په غم دا خلك په لپو- لپو اوښکې تویوي، تر پرونه همدې خلکو دومره ځوروله، چې له سترګو یې د اوښکو بې شمېره لارې جوړې شوې وې.
دوی ولې د خلکو زړونه په تالونو کې اچوي؟
دلته خو دوی د مینې پسې لکه قصاب چاړه نیولې ګرځي. په دغه دود کې به ته د دوی خاکي وجود ته په سرزوری سره ښکته په سجده پرېوځې.
دلته به غر پر خپل سر ګرځوې؛ خو ځه ته مهٔ خواشینې کېږه!
آن د حرم پر لور قدم هم د مینې او خوښې په زور کیږي، یو وخت به وي چې د دوی چړې او تبرګي به بې لاستي شي. دا لکه چاړه زړه غوځوونکي دودونه به د همدوی د پرې کېدو سبب وګرځي.
سلګۍ د اسویلي په تار زړې خبرې وګنډلې او اوږده ساه یې واخېسته: دا ماران په هر سوري او ځای کې د ننوتلو او چیچلو مهارت لري.
مینې د ډاډ په پار ورغبرګه کړه:
هېڅ پروا مه کوه!
دا ماران به هم یو ورځ د زهرو غاښونه ورژوي. پوهېږم سخته ده، خو موږ باید خپل ژوند ته ناهیلي نه شو.
هغه فکرونه او زړونه چې په سپېځلې لارې وتړل شي، پر وړاندې یې درېدنه شګو باندې د سیندونو تړل دي.
دا د بد دود جنازې به له دې ځایه لرې لاړې او تر خړو خاورو لاندې به ښخې شي. بیا به دلته هره جوړه د ښکلا په پاڼو کې نغاړل کیږي. راتلونکی نسل به یې له ژوند او خنداوو خوندونه اخلي.

سلگۍ د اوښکو په پاکولو یوه بله اوږده ساه واخېسته. مینې ته په کتو یې زړه نازړه خپلې هیلې وغوړولې. د ستونې سلگۍ یې د زړه په زور تېره کړه، خو بیا به هم د تبسم وژل شوي جسد ته په لیدو لکه پاڼه ورېږدېده. فکر به یې په هر پَل ځای- ځای دمه کوله.

د تبسم جنازه د تل لپاره له کوره ووته، نور نو سلگۍ د خپلې گاونډۍ تبسم سره د دېوالۀ پر سر خوندورې کیسې نه شي کولای.

سلگۍ د خپلې پاکې او سپېڅلې مینې د رازونو رازداره د تل لپاره له لاسه ورکړه. د جنازې په وتو یې ډېره غوغا او ژړا همزولو او ملگرو وکړه؛ ځکه تبسم هغه شوخه نجلۍ وه، چې د نجونو خپلمنځي ناستو کې به پرې مجلسونه گرم وو. له همدې امله یې د دوی په منځ کې ځانگړی ځای درلود.

سلگۍ د دغه دود پر وړاندې بغاوتي ضد واخیسته.

تبسم له خپلې مینې نړۍ ځار کړه، خو د نورو نجونو اندېښنه سلگۍ ته وه، چې دا به په دې زهرجن چاپېریال کې څنگه بغاوت ته زړه ورکوي؟

څو نجونو نیت وکړ، چې د سلگۍ ککره باید په داسې برخلیکونو خلاصه کړي.

د تبسم د مړینې درېیمه وه. پر درېیمه به ډېرې زړې - ځوانې د مړه شوي پر خاورې تللې. دود همدا وو. خو تبسم چې د دود پر وړاندې یې بغاوت کړی وو، زړو ښځو تگ ته زړهٔ ونه کړ. څو پېغلو نجونو نیت وکړ، چې دا دود ترسره کړي. موخه یې سلگۍ وه. باید له دې بغاوتي او ضدي فکره یې لاس په سر کړې وای. نجونې چمتو شوې.

سلگۍ هم له خپل پلاره اجازه وغوښته. پلار يې په قهرجن تندي خپلې لور ته وکتل:

چېرته داسې شريفه نجلۍ وه، چې تاسې يې لا د مزار ديدار کوئ!؟

سلگۍ په معصومې او عاجزې لهجې د پلار خبره پرې کړه:

خير دی پلارجانه داسې مه وايه، وبال دی!

هغه هم زړهٔ درلود، څو وار د هلك والا ورپسې راغلل، خو دا ناروا يې کورنۍ ورسره وکړه. دين کې خو داسې څه نشته، چې يو څوك دې د ژوند ملگري په ټاکلو د مرگ پر برخليك اخته شي.

پلار يې د تندې سربېره د مخ ټوله جغرافيه گونځې کړه.

لا نور په قهرجن انداز يې لور ته وکتل:

چُپ شه نجلۍ!

د سپکو ننگه مه کوه!

سلگۍ پوهه شوه چې پلار سره په خبرو کې يې د دود پولې ماتې کړې.

د دغه دود پر وړاندې يې کرکه نوره هم زياته شوه.

خو د تگ لپاره يې ژر د خبرو زاويه بدله کړه. په ډک ستونې يې پلار ته وکتل:

ښه څه پلارجانه هغه خو اوس پر خپلې سزا ورسېده، ماته اجازه راکړه چې د همزولو سره لاړه شم. سات به مې تېر شي!

- ښه څه ستا د فکر بدلون لپاره به اجازه درکړم، کنه د هغې نجلۍ کړنو ته په کتو مې هېڅ زړه نه کېږي!

سلگۍ د خپل پلار له لاس ښکلولو وروسته روانه شوه.

همزولې يې د ده فکر بدلولو لپاره په پلان لګه ښکاريان چمتو ناست وو.

هغه يې د سلګی له دې ضدي سوچونو لاس په سر کول وو، خو دا ملګرې يې هم د تبسم په څېر له ورته برخليک سره مخ نه شي.

هره يوه په دې تمه چپ وه، چې د ده پر خای به بله سلګی ته په خبرو پيل کوي.

دا به لومړی وار وو، چې پر لار د پېغلو نجونو شوخه ډله په خاموشه خوله روانه وه.

د تبسم او هارون مقبرې هم د کلي خلکو له يو بل نه لرې وېستې وې. دا هر څه د دوديز ضد له امله. کېدای شي فکر به يې کاوه، چې هسې نه لهٔ ځمکې لاندې خپلې خوښې ته په رسېدو د دود پولې ماتې کړي.

نجونې د تبسم پر مزار د پرتو خاورو ډېري ته ودرېدل.

همزولو ته د دود ځپلې تبسم تېرې شوخۍ او اوسنۍ خاموشۍ سخت درد ورکړ.

هرې يوې د تورو خاورو لاندې پرتې تبسم په ياد پرېمانه اوښکې تويې کړې.

خو د تبسم له حالته ناخبره وو. پر دې نو خدای پوهېده چې د بېلتون په ځولنو د بندې سلګی به څه حال وي؟

قبر يو زندان دی. هغه هم تياره زندان. دا زندان بيا چاته د جنت باغچه شي او چاته د دوزخ له کندو يوه کنده.

څه وخت تېر شو. پېغلو يو بل ته کتل. اوس به څوک وي چې سلګی ته نصيحتونه پيل کړي. سرزورې سلګی له نصيحتونو وړاندې

لکه خپل ځان یې چې د همدې خاورو لاندې وي، د غچ اخیستو او غوصې غاښونه چیچل. له فکر سره یې یو ډول وېره هم مله وه.

د ډېرو خبرو او نصیحتونو وروسته سلګۍ د تبسم پر مزار له پرتو خاورو خپلې سترګې پورته او په ګونځې تندې یې نجونو ته وکتل:

ماته ډېرې نیاګانې مه جوړېږئ!

ما څه کړي دي؟

که دوی زما د فکر څولانه کول غواړي، نو تبسم خو لا د تورو خاورو لاندې روغه پرته ده، که زه د دغې تورو خاورو غوندې ذرې – ذرې هم شم، بیا هم له خپل ضده اوښتونکې نه یم.

هیله کوم په دې اړه زما د فکر بدلون لپاره هڅې مه کوئ!

زه د خپل دین له چوکاټه بنه خبره یم. دا هر څه زموږ د دین برعکس دي. زما هڅه د دود پولې ساتل نه، بلکې د دین حدود ساتل دي.

بېرته یې سترګې د مزار خاورو ته واړولې. لپه کې خاورې ته په کتو یې بدن کې فکر له زړه سره دلایل پیل کړل.

فکر او ضمیر یې د ملګرو خبرې تایید، خو زړه یې د ماشوم غوندې پر شوې سرکشۍ ټینګار کاوه؛ ځکه خو یې لېوني زړه ته سمه خبره هم کړه بنکارېده.

په فکر کې همداسې ژوره لاړه، له سترګو یې رڼه اوښکه د مزار خاورې خپلې لمنې کې ونغاړله.

ښنو څوکو ته یې وکتل. په کرار غږ یې ګیله وکړه:

د سر زورو پر وړاندې د حق کلیمه ویل څه اسانه خبره نه ده. خلک یې ولې ووایي؟ بیا خو به ستونزې ګالي. ژوند به یې سخت شي. څوک به بنه نه ورپسې وایي.

نه!

لکه خارویو غوندې؟ یواځې خوراک لپاره به غږ کوې؟ نور به د ظلمونو پر وړاندې د حق ویلو ژبه نه لرې؟ که یوه مړی روزي غواړې، باید د ژوند جلبونه دې دودونو ته وسپارې؟ چې هغه دې بې خوښې خپل فکر پسې راکاږي.

دا اسانه ده؟

هو - هو!

او بیا د زمانې له دود سره لاس اچول؟؟؟

د دې پروړاندې بغاوت؟

توووبه!

دا خو بیخي سخته ده!

چاته یو او چاته بل کار سخت دی. تاسې ته چې هغه خاموشي اسانه ښکاري، ماته لکه مرګ داسې سخته ده. دا بغاوت راته له هغې ګونګې ژبې څو وارې اسانه ښکاري.

زما د فطرت بدلون هڅه به نه کوئ!

دا که تاسې توکې هم کوئ، زما له بغاوت وړاندې زما د هیلو او خوښیو دروازې ور تړئ.

د ملګرو یې د ده د ځان سره لکه د ماشومانو غوندې شویو خبرو ته پام وو.

یوې خانه سره ویل:

دا نجلی ډېرې بدې وايي. دوه لارې لري؛ يا به د بغاوت پر لار د خپلې خوښې دلدار اخلي او يا به پر دغه لار د خپل پېغلتابه ازار!

پوهـ شول چې سرزوره سلګی پر سرکشی ټينګه ولاړه ده. ژر يې د فکر بدلون لپاره نورې خبرې پيل کړې.

خو نورو خبرو د سلګی فکر بدل او له ټنډې يې ملګرو ته کونځې ختمې شوې.

په ژړغونې مسکاه يې وويل:

زما دغو دودونو سره جنګ ته زړهٔ شوی!

زمور تبسم دود ووژله، خو زه به دغه بد دود پر بغاوتي فکر وژنم او بيا به يې تر تورو خاورو لاندې کوم.

زه به وګورم چې څنګه دا رواجونه يوه سپېڅلې پېغله له خپل حقه بې برخې کوي!

نور به نو ما نه ملاتوئ، داسې فکر وکړئ چې زما په شناخت او قسمت د هغه نوم له وړاندې ليکل شوی!

زه خپلې پاکې لمنې ته له ټولو ډېر د داغ نه لګېدو پام کوم.

زما غمخورې خورې!

له دې وروسته ستا غمخوري زما سره دا ده، چې له ربه راته په ديني او شرعي لاره وصال وغواړې!

ټولو له ربه تبسم ته د ښنې غوښتنه وکړه او د کورونو پر لور رهي شول.

د سلګی فکرونو کې پر لار د همزولو خبرو او د زړه کړنو سم شور جوړ کړی وو.

هلته ذیشان هم له شته دودونو تنګ راغلی. د سلګی له بغاوته هم خبر شو. د خپل بغاوت برباليتوب لپاره يې يو څرک وليد. تر دې وړاندې ذیشان ډېرې چغې د بغاوت وهلې، خو برياليتوب يې ځکه نه ليد، چې د سلګی په څېر کومه بغاوتي پېغلې شتون نه درلود.
ژوند کې ډېرى نارينه له ښځينه وو پرته هېڅ دي. دا ښځينه له موره نيولې، تر خور او مېرمنې ورهاخوا ، خوابنې، ترور، لور او داسې نور ډېر په خپل ځان کې رانغاړي. له همدې امله خو ويل کېږي، چې د هر برياليي کس تر شاه به خامخا د يوې ښځينه لاس وي.
له دې وروسته نو پر ذیشان او سلګی د دوی نږدې ملګري ورو - ورو خبرېدل. پوهېدل چې په زړونو يې نورې چارې نه کېږي، بس هر يو به يې د بغاوت بريا غوښته. دا بريا د دوی په ګټه هم وه، خو له وېرې يې خولې پټې کړې وې.
د ذیشان لپاره دا پل اخيستل څه اسان نه وو، خو داډه وو چې بغاوت به يې بې رنګه نه وي.
ډېر کله به يې ځان سره ويل:
ګوره!
تر خاورو لاندې ډېرى مړي پراته وي، خو نومونه د هغو خلکو ژوندي وي، چې ژوند يې له مبارزې او بغاوت سره تړلی وو. ننګرهار کې ميا علي بابا، لغمان کې مهترلام بابا، غزني کې سلطان محمود غزنوي، حکيم سنايي، شمس ګرندی بابا، شمس العارفين، کندهار کې د مېوند ملاله. دا ټول هسې نه ياديږي. د دوی د ژوند تر شاه د بغاوت نامه تړلې.
ذیشان او سلګی د خلکو په خولې د يو بل له بغاوته خبر شول.

په نالیدلې بڼه به ورځ تر بلې پر یو بل ګرانېدل. د ګرانښت تر شاه د بغاوت لاس وو.

د ملګرو له خوا یې هڅه پیل شوه، څو له دې وروسته دغه په زړونو پېوند شوې جوړه په تول ژوند سره یوځای شي، خو په همزولو کې شروع کېدونکو ګونګوسو یې ورو-ورو کورنی ترې خبرولې.

د نجلۍ او هلك په کورنیو کې ځینې خلك خبر شول. ډېرو ته خپل دود او ناړامه غېرت نېغ لکه ستن مخته شو.

بلاخره ذیشان خپله یوه خور د سلګۍ په اړه وپوښتله.

مشرۍ خور یې د سلګۍ ډېرې ستاینې ورته وکړې. دې ستاینو سلګۍ پر ذیشان لا نوره ګرانه کړه.

خپلې خور ته یې په مسکا وکتل:

خورې که دا نجلۍ دې ...

د خور له حېرانې څېرې حیا ورغله. پاتې خبره یې ستوني کې ایساره شوه.

هغې تر ډېره وخته خپل ورور ته د دود پر پولې لکه رېګمار صفایی ورکولې، خو چې کله یې د ورور الوتي رنګ ته پام شو، د خورګرۍ عاطفه یې پرې راغله. له لاسونو یې ونیوو:

خیر دی وروره، مه خواشینی کېږه!

خو ګوره پام چې درنه نور خلك خبر نشي.

زه به مې پټ غوندې مور په دې اړه وپوښتم.

ورځ راغله. موقع هم برابره شوه.

خور یې د ذیشان له نوم اخیستو وړاندې مور ته مسکۍ شوه:

مورې! هغه زموږ لېونی ذیشان وایي، سلګۍ مې ...

د نور څه ویلو وړاندې یې مور خپلې پنځه واړه ګوتې ښځې لور ته مخامخ کړې:

بسس!

زه یې له کیسو خبره شوې یم.

دواړو له دودیزو کړنو پښې ویستلې.

ځان مې ځکه غلی کړی، چې یو خو مې دا خلک هېڅ په سترګو ښه نه لګي او بل دا چې زوی مې له دغه بغاوته لاس په سر او زه ورته په خپله خوښه خپله وربېره وکړم!

د مور یې چې زړګي غوندې زوی ګي باندې خفګان پېرزو نه وو، هېڅ یې نشو ویلای. هغه یې دا وه چې دودیزو فکرونو ته په درناوي یې زوی دې ته د خپل ژوند جوړولو واک ورکړي.

خپلې لور ته یې زړه نا زړه ورغبرګه کړه:

خدای دې هغه څه پېښ کړي، چې په کې خیر مو وي!

دواړو د امین په ویلو دغه لنډه جرګه پای کړه.

ځوان چې د خور په ژبه د مور له زړه خبر شو، زړه یې بې اوره لمبې وکړې.

تر ډېره ترې لار ورکه وه. اخر یې فکر خپلې ترور ته واوښت، هغه چې خبرو کې نمبر ترې چا نشو نیولی. چالاکې ژبې یې په ټولو خولو واکمني کوله.

هلته له تللو او غرمنۍ خوړو وروسته یې ترور ته ویل:

تاسره مې کار درلود!

د داستان له خبرېدو وروسته یې ترور لومړی مسکاه، خو وروسته یې خفه غوندې سودا پر زړه خپره شوه:

تا دا شته دودونه له فکره وویستل؟
یا تاته د دې ځای د مینې تیر اندازان او ښکاریان نه ښکاري!؟
او که تاته دا خپل کلی معلوم نه دی!؟
دلته د ژوند په جوړولو کې پر خپلې خوښې ځومره بندیزونه دي؟
دا خلک د دغې دود د ساتلو پر وړاندې له دولت، شهرت، صفت او آن له ناموسه تېر دي!
دلته دې لاس پر سترګو ږده او قدم وهه!
تاسو خو بیا یو بل سره ناست هم نهٔ یاست؛ دا ګډ بغاوت اخر څنګه وشو؟
وراره یې شرمنده شو. پهٔ کراره بې تولې او بې اندازه پهٔ خبرو شو:
پهٔ خدای تروري کهٔ لا لیدلې مې وي، خو بس یو یې کړی بغاوت او بل یې د یو او بل له خولې ستاینې. په زړه کې مې هسې – ببسه ګرانه شوې.
وايي، د حیا او عزت نجلۍ ده. ته خو خبره یې، چې خلک یې د حیا او وړتیا څومره ښې کیسې کوي.
اوسني ځوانان خو چې لږه پوهه هم ولري، د ژوند جوړولو لپاره له حیا او عزته برخمنه دینداره مېرمن ټاکي.
ترور یې مینه ناکه غصه وکړه:
پوهېږم، تاسې دواړو زموږ دود پسې راخیستې. غواړئ د دود خور شوی تغر ټول کړئ، خو تېر شه له دغو کړنو. د خپلې ځوانۍ ازار مه اخله!
ذیشان احساساتو کې راغی:

زه چې په خپله خوښه ژوند جوړول غواړم، دې کې د نورو خلکو څه کار؟

دا تاسې دواړه ولې یو ډول خبرې کوئ!؟

هغهٔ لېونۍ سلګۍ هم همداسې وایي!

لهٔ تا وړاندې راته هغې د خپل زړګي غوټې سپړلې.

ځوان لکه ښکاري یو دم خپلې عمه ته زیر شو. پهٔ کراره یې شونډې وخوځېدې:

ښه تروري څهٔ یې ویل!؟

سر نه راته ټوله کیسه وکړه!

- دا زما لېونۍ وراړهٔ دې خدای پوهـ کړي نو!

خو همدا تا چې څهٔ ویل، د هغې د خولې پهٔ تارونو هم همدا رباب غږېده!

- څو ځنګه او کله!؟

د هغې د خولې تمثیل راته لږ وکه!

- ګوره زویه!

فقیر ماما د لور واده کې هسې بحث پهٔ خیاطۍ او بیا ستا پهٔ چارو او کارونو راغی!

له هغې یوه ورځ وړاندې تهٔ راغلی وې، مال هو دې ورځو کې ډېر بوخت وي، پرون موږ کره راغلی وو.

وروسته چې لهٔ دې خبرو فارغ شؤ، سلګۍ زما خواته پهٔ راتګ رانه غلې غونډې ستا پوښتنه وکړه.

خو چې خوله مې یې وپوښتله. همدا ډول خبرې لکه تا چې وکړې، هغې هم ویل.

بیا یې لا راته یوه سپارښتنه هم وکړه، خو راته یې دا ویل چې ما به ورته نهٔ ښایې!

د ذیشان زګو کې وینه لهٔ مستې نه څغاستې او ټوپونه وکړل.

د ډېرو پوښتلو او چېړلو وروسته یې ترور ورته ګویا شوه:

خو کهٔ درته ویې وایم، هسې نه چې ونه شي!

- نه کنه تروورجانې:

ته یې ووایه، خامخا به کیږي!

- ښه نو هغې ویل راتلونکې میاشت مې د ماما د زوی واده دی، زما د نارینه وو کوټونه سم خوښیږي، کهٔ وربانديې ماته یو ښکلی کوټ وګنډې، خو ما به ورته نه ښایې. ورته به وایې چې یو چا راځخه غوښتی دی، نو وبه شي!؟

ذیشان خوله خبرې ته جوړوله، خو بېرته یې د عمه شونډې وخوځېدې:

ما ورته ویل چې هغه خو ډېر ګران جوړیږي!

هغې زارۍ کولې، چې:(هر څومره کهٔ ګران وي، زه یې پیسې ورکوم.)

مال سمه ده کهٔ وخت پیدا شو، حتما به ورته ووایم، خو تا چل باز مې لهٔ خولې ټول رازونه واخېستل.

ذیشان لهٔ جذبې ډکه اوږده ساه واخېسته:

بس د همدې اوونۍ پهٔ پای کې یې له ما وغواړه!

ژر یې مهم څه ته ورپام شو:

هی تروري، ناپ؟ ناپ او اندازه به نو څنګه شي!؟

- هغهٔ به ورنه زهٔ واخلم!

- په دې به مې وګټې، خو ته به چېرته د کوټ اندازه واخېستلای شې!؟
دا خو جامو ناپونه نه دي کنه!
ترور يې د کم راتلو له امله له غوصې شنه شوه:
کېنه خيرنه!
خياطي کې دې لا مور زما شاګرده تېره شوې، ته يې لا زوی يې!
- نه کنه عمه جانې د کوټ لپاره ځو ځايه اندازه اخېستل کېږي، ته نو ولې ماته غوصه کېږې!؟
ترور يې د دليل په اورېدو لږه ارامه شوه:
بنه چې د هر ځای اندازه په کار وي ماته يې ووايه، زه به يې ترې واخلم!
د ناپ اخېستو چل له ښودلو وروسته ذيشان د هيلو په ډکو منګولو د ترور له کوره بهر شو.
د خپلې ترور زنګ ته يې شېبې شمېرلې. هغه به کوم ساعت وي، چې ترور يې ذيشان ته د اندازې اخېستو په اړه ووايي؟
ترور يې سلګۍ خپل کور ته راوغوښته او د کوټ لپاره يې ترې ټول هغه انداموته ناپ کړل، چې ذيشان ورښودلي وو.
سلګۍ په زړه کې بل ډول خوشاله وه. يو يې د کوټ خوښې او بل هم د هغه چا په لاس چې دې ورپورې په پټو سترګو ټولې هيلې تړلې.
هغې د اندازې له ورکولو سره سم د ذيشان ترور ته پنځه زره افغانۍ ورکړې.

هغې د لږ ست په کولو د رنګ پوښتنه ترینه وکړه، خو سلګۍ د رنګ ټاکنه ذیشان ته پرېښوده.

د سلګۍ تګ او د ذیشان خپلې ترور کره راتګ وو.

عمه یې د کوټ اخېستل شوې اندازه خپل وراره ته وسپارله.

د ذیشان له پوښتلو وړاندې یې عمه ورغبرګه کړه:

سلګۍ ویل چې رنګ یې د ده په خوښه!

ځوان د دې خبرې په اورېدو د فکر په نورو جزیرو کې ټالونه خوړل.

فکر یې دا وو، چې سلګۍ د رنګ په ټاکنه کې ښایي نیت دا وي، خو مالومه کړي چې ایا د ذیشان ټاکل شوی رنګ به د مینې د پایښت په مانا وي او که د پرېکون؟

ذیشان ته د اندازې په اخېستلو ځمکې ځای نه ورکاوه. زړه یې له ډېرې تادۍ پښې ځان پسې رانښکلې.

ژر یې ځان تر دوکانه ورساوه. هغه په چارو پوهـ استاذ نن له خپلو کاریګرو د ماشوم په څېر پوښتنې کوي:

دغه رنګ به څنګه وي هن!؟

ته وګوره!

هر یو د استاذ نادرو او ماشومانه حرکاتو ته په کتو حېران وو، خو بیا یې هم هڅه کوله، څو د هغه په خوښه ښکلی رنګ ورته وټاکي.

ټولو خولې ګنډلې وې، خو په ذهنونو کې یې د پوښتنو شور ګډ وو.

یوه د خبرو جرئت وکړ:

استاذه ستا دا ټول رنګونه هېڅ نارینه وو سره نه ښایي، فکر کوم نن مو کومې پېغلې ته د کوټ جوړلو پرېکړه کړې. ذیشان ته لکه چا چې د محبت پېغور ورکړی وي، په نرمې غصې یې وویل:

خدای دې وانخله لېونیه!

بابي ته دې کوټ ګنډمه!

دې خبرې سره د ټولو خولې وتښتېدې.

یوه ویل:

لومړی خو دې زموږ ورېندار موږ ته مبارک وي او بیا دا چې کله دغه کار شوی!؟

موږ خو سخت له دې خبرې خندې ته پاتې شوي یؤ!

ګوندې موږ هم خپله خوله پرې خوږه کړې وای!

ذیشان په دې خبرو څکه کم راغی، چې تر اوسه یې د ژوند ملګرې په ټاکنه کې هېڅ کوم پرمختګ څه چې یادونه هم نه وه شوې.

د زړه لپې یې خدای ته په ټېټر کې ونیولې، چې خدایه نور مې کلي ته تقدیر کې هدایت او ماته زما محبت ولیکه!

زه خو د بې وسی په اخري حد کې یم، نا چاري مې ټوله تهٔ خپله وینې، نور به نو زه څنګه درته ووایم، چې دا او یا دا غواړم؟

زما خپله نالیدلې مینه ماته نصیب کړه. دا به داسې وي، لکه زه مو چې دې دنیا کې جنت ته قریب کړی یم.

زما د تقدیر په شناختې د هغې نوم ولیکه!

د شاګرد لخوا د ګوتو په څوکو له خوږولو وروسته ذیشان دغو چورتونو نه راویښ شو:

استاذه له کله نه چې درته غږونه کوو، هېڅ پام دې نه دی، زموږ دې سودا کړه.

ذیشان په چټکۍ ورغبرګه کړه:

مړه سم د نیکه زامن یاست!

خو څه مې چې زړه کې وو، له خولې مو راته ووېستل، څه محشر مو جوړ کړی چې پوښتنې کوئ!

نور نو پېغور راته په جوړېدو دی.

ملګري یې د خپل استاذ له زخمي زړه څخه په خبرېدو د ټکور په هڅه شول:

والله استاذه دا رنګ بیخي ښکلی دی!

- نه استاذ هغه نه دا ګلابي بیخي ښهٔ دی!

ذیشان د ټولو وړاندیزونو ته په حیرتیا خپلې خولې ته صبر ورکړی وو.

یوه کاریګر یې ورته شین ډوله زړه وړونکی رنګ رامخته کړ، لکه بیخي چې ذیشان یې انتظار کاوه؛ د جذبې په شرک یې ترې راکش او په تعجب یې وویل:

دا ؟! بس همدا رنګ مې وټاکه!

ذیشان به ډېری وخت خپله کار ته نه کېناسته، یواځې د څارونکي په څېر به یې نظارت کاوه، خو د بغاوت له امله مینه کې سېلاب اخېستې د دې کوټ ګنډلو ته خپله متې بډوهلې.

ذیشان د کوټ په ګنډلو کې د وصال د تمبو پرانېسته لیدله، په دغه کوټ یې خپله ټوله شپه شبګیر کړه. د سبا نښې ولګېدې. څوان ته د

پوهنتون تګ هم ورپه غاړه وو. سترګې يې سرې ګرځېدلې وې، خو د ګوګل ارمانونو يې هېڅ خوب ته اجازه نه ورکوله.

بس ستړيا يې لاسبرې او خپل ټول ارمانونه يې خان سره څملول.

لکه سودايي به ورته د هر کار په کولو د سلګۍ کوټ ګنډل مخته ودرېدل. د څو ورځو وروسته يې د سلګۍ کوټ په ډېرې خوارۍ د زړه په خوښه جوړ او د عمه کره رهي شو. ترور يې د کوټ په څنډو کې د خياطۍ سربېره شويو زړه رابښکونکو برخو ته پام شو:

په مايل زړه يې ورغبرګه کړه:

بچيه په دې کوټ خو دې ورته سمې نخرې کړي دي!

څه ډولۍ ته خو نه خېژي، چې دومره زيارونه دې پرې کاږلي!

کاش زما خان کې جوړ راتلای، که خو مې ورته ورکړی وای.

وراره يې د کوټ په ستاينې خوښ شو:

نه ترورجانې تاته به هم په کاريګرو باندې همداسې يو وګنډم!

ترور يې د وراره د خورولو په پار وپوښت:

رښتيا ووايه ذيشان!

دا دې خپله ګنډلی او که په کاريګرو!؟

وراره يې د شرمندګۍ په مسکا څمکې لور ته وکتل:

نه ولا کاريګر ډېر بوخت وو، مال چې تر واده پورې وګنډل شي، ايسته مې خپله ورته جوړ کړ.

- ښه نو هغې ته دې خپله جوړ کړی او ماته يې په کاريګرو جوړوې هن!؟

- هههه څه خير سمه ده تروري تاته به يې هم زه وګنډم، نور څه وايې!؟

ترور يې خپل وراره غېږ ته جوخت کړ:
توکې مې درسره وکړې زويه!
همدا نن به ستا په لاس جوړ شوی کوټ سلګۍ ته وسپارم!
له مکتبه په همدې لاره ځي، وړمه ورځ غرمه مهال راغلې وه، مال ذيشان ويل سبا تيارېږي او بل سبا به يې راوړي، نو ممکن چې نن ورپسې راشي.
دوی په همدې خبرو کې لږ نور وخت هم تېر کړ، چې د ذيشان د ترور دروازه د ګوتو په نازکو څوکو ټک - ټک شوه.
د (خاله کور کې يې!) غږ په کولو د سلګۍ نازک زرکين غږ د ذيشان تر غوږونو ورسېد، خو دا چې له وړاندې يې د سلګۍ غږ نه وو اورېدلی، ډېر پرې زير نه شو او خپلې ترور ته يې د ورتګ خبره وکړه.
ترور يې هم په چټکۍ سره سمدلاسه لاړه.
ډېر وخت واوښت. ذيشان تر ډېره ځان په موبايل بوخت کړ، خو بلاخره زړه يې نور په تنګېدو شو.
بله خونه کې د ذيشان ترور سلګۍ ته د کوټ په ښودلو د هغې د بې کچې خوښۍ ننداره کوله؛ د سلګۍ زړه لکه د اوبو ابشار سمې مستۍ کولې.
هغې د خپل کوټ په ټولو برخو له دې امله لاس تېر کړ، چې ورته وويل شول، ذيشان درته په خپلو ګوتو ګنډلی دی.
سلګۍ ته په مبارکۍ يې ورته په شوخۍ وويل:
هغې بلې خونې ته لاړه شه، چې ذيشان هم مبارکي درکړي.
د سلګۍ په بدن د جټکې څپه تېره شوه، په وارخطايۍ يې وپوښتل:

هن!؟

څه دې ویل!؟

د ذیشان ترور چې د نجلۍ وارخطایي ولیده، ژر یې د خبلې ژبې

لوری بدل کړ:

ولې وارخطاء شوې!؟

په تهوکو نه پوهېږې!؟

سلگۍ ژر د ارام ژوره اوږده ساه واخېسته:

مړې خاله زما دې نږدې وو، چې په ټوپونو زړه له گوگله بهر کړی

وی.

د لږ ساعت خبرو وروسته د دوی په گرمو خبرو کې د ذیشان غږ

واورېدل شو:

ترورې چېرته لاړې!؟

په ما نا وخته کیږي، زه ځم!

سلگۍ په خپلې خولې له وارخطایۍ ډک لاس کېښود:

هاآآ خاله!

تا خو تهوکې نه رښتیا ویل کنه!

دا د ذیشان غږ وو!؟

د "هو" غږ په اورېدو سلگۍ په بې واکۍ زړه له وېرې او جذبې په ټوپونو شو؛ لکه د پښو لاندې چې یې اور بل شوی وي، هېڅ په یو ځای نه شوه درېدلې. هغه د بغاوتونو فکرونه یې له سره وتښتېدل. ټول شته دودونه ورمخته شول. په ډېرې بېړې یې د ذیشان په لاس گنډل شوی کوټ خپله بکسه کې واچوو او له خدای پامانۍ وروسته یې له کوره پښې سپکې کړې.

له کوره د څو قدمه تلو وروسته لاره کې نبغه په خپل ځای ودرېده.
فکر یې لږ ځای ته راغی:
ښه سلګۍ څه بلا خو نه وو چې دومره په بېړه ترې وتښتېدې، کاش په پټه یا ښکاره خو دې یو ځل لیدلی وی.
زړه یې غوښتل چې بېرته په کومه بهانه کور ته ورستنه شي څو ذیشان وګوري، خو بدن کې په لوړه پروت قاضي (ذهن) یې په خبرې باندې د رد قلم راکاږه.
سلګۍ که د خپلې مینې لیدو ته هېڅ جرئت نه درلود، خو پښې یې له مخکې تګه پاتې شوې. زړه یې په سینې لکه څټک سم ګوزارونه کول.
له دیدنه بېنوا په رپېدلي بدن سره بېرته په ډېرې چابکۍ د خپل کور پر لور روانه شوه.
کور ته په رسېدو یې څو وار کوټ ښکته - پورته کړ، خو له وېرې یې هېچاته هم په خلاص زړه نه شو ورښودلی.
څو ورځې وروسته یې د ماما زوی واده ته ټول تیاری نیول شوی وو، سلګۍ هم د واده په سهار ماماګنۍ کره د تګ لپاره د کور نورو غړو په څېر خپل ځان اماده او د ذیشان په لاس ګنډل شوی کوټ یې په ډېرې بې صبرۍ واغوست.
د ده په غاړه دومره ښکلي کوټ بیخي د ښایست حدود ماتول. مور یې د کوټ په لیدو پوښتنې ته اړ شوه. سلګۍ چې په اسانه یې دروغ نه ویل، د ذیشان ترور ته د پیسو د ورکړې او د ذیشان په لاس د ګنډل شوي کوټ ټوله کیسه یې خپلې مېرنۍ مور ته وکړه.

د هغه فکر کې ضد او دود دواړه جوړه شول. په سلګۍ یې غصه وکړه، چې هلته د تلو لپاره باید دا کوټ وانه غوندې، خو سلګۍ لکه په کوټ چې مینه شوې وي، هېڅ ترې نه اوښته.

مېرَنۍ مور بلاخره اړ شوه، چې د سلګۍ له بدنه په زوره د ذیشان د لاس نښه جلا کړي.

د کوټ په لرې کولو او د ګوزارونو په کولو د سلګۍ مخ ژوبل او د کوټ یوه برخه څیرې شوه. سلګۍ هم له ډېرې ناهیلۍ په ژړغونې حالت قسم وکړ، چې بې کوټه به یې د وراره واده ته لاړه نشي.

دا چې ټول کور واده ته په تلو وو، د سلګۍ پلار او ورونو یې د تګ پر مهال څو وار د سلګۍ پوښتنه وکړه، خو هغې له ټولو پناه د خونې په کونج کې د کوټ څېرې شوې برخه په خپلو اوښکو لمدوله.

د سلګۍ د نازکې مینې قدر نه یواځې دې کور کې نه وو؛ بلکې له ټول کلي څخه د مینې رنګ الوتی دودونو او دستورونو ځان سره وړی وو.

د تلو پرمهال یې پلار څو وار سلګۍ راوبلله، خو سلګۍ ساندې وهلې. هغه هم د خپلې لور د ژړا او سلګیو غږ واورېد.

څنګ ته په تلو یې پوښتنه ترې وکړه.

اجل نیولې سلګۍ په ژړغونو سترګو څیرې شوی مخ او خواته شلېدلی کوټ وروښود.

پلار یې له مېرمنې په قهرجنې لهجې د علت پوښتنه وکړه. هغې په ډېر مهارت خپل خاوند ته د تېټ او پاس وروسته د سلګۍ او ذیشان ترمنځ له روانو جریاناتو پرده پورته کړه.

دا چې د نارینه وو ډېری وخت د سترګو پرځای غوږونه چټک وي، نو د دې خبرو په اورېدو سره د دود پولو جوش او غړمبار جوړ کړ.
غصه یې ترحم باندې برلاسې او پر خپلې لور باندې یې ښه شپېه وکړه. دومره یې ووهله چې آن له پوزې یې وینه راغله.
د ترهېدلې سلګۍ ټول بدن له وېرې یوشان لړزېده. د کور نور غړي هم خبر شول.
د سلګۍ تالا والا ژوندون کې یې د زړه چاودون مسله مخکې شوه.
د ورونو او ترونو په خبرېدو پرې هر یوه تر خپلې وسې زړه تش کړ.
سلګۍ له ډېرو وهلو وروسته د ناهیلۍ ضدي غصه وکړه، چې غبرګون کې یې تره پرې آن د مرګ هڅه وکړه، خو پلار یې د خپل کشر ورور لاس ونیوو.
د سلګۍ له هیلو ټوکېدلی او د ذیشان په لاس جوړ شوی کوټ تار - تار ډېران ته د اچولو شو. د دغې بې بخته کوټ له لاسه سلګۍ هم په وهلو ټوک - ټوک شوه.
له میاشتو په تمه هیله منده سلګۍ د ماما زوی واده ته له تګه پاتې او د خونې په کونج کې یې خپل تار - تار وېښته راټولول.
سلګۍ سمه لېونۍ ښکارېده. په لېونتوب کې یې یواځې دومره توپیر وو، چې د دښتو او غرونو پرځای یې د خونې تیارې ته ېبولې وه، کنه نور یې په شکل او حرکاتو کې هېڅ شک د لېونتوب نه ښکارېده.
د دې لپاره یې یوه بله خور هم واده ته له تګه پاتې شوه.
تر ډېره وخته سلګۍ له خپلې خاموشۍ او ځان - ځانی سره غاړه - غړۍ وه. د ډېرې ژړا او بدن خوړېدا له امله پرې د خوب نشې غلبه وکړه.

د ځوانۍ خوب او بیا زخمي - زخمي بدن کې د خوب غلبه بل ډول نشه لري او کله چې له ډېرې ژړا نه سترګو کې اوښکې وچې شي، بیا نو دا خوب لکه پرهر باندې مرهم داسې لګیږي.

د ډېرو ګډو - وډو خیالونو وروسته له سلګۍ سره پاتې شوې خور یې یو دم په ډېرې وارخطایۍ خونې ته راننوته او خپله خور یې له لاسو نیولې کش کړه.

د سترګو په رپ کې یې له کوره بهر او د ذیشان دوی د کور پر لور دواړه په منډو شول. سلګۍ بار - بار د کور پر لور شاته کتل، خو له خالي کوره ورپسې ژړا څه چې کومه لپه اوبه هم تویې نه شوې.

غمجن حالت وو. د سلګۍ زخمي بدن لکه په مینه کې خوږېدلی زړه یو ډول خوږ درد درلود. ده چې د ذیشان د لیدلو لویې ارمان په زړه لره، هېڅ "هو" یا "نه" یې خپلې خور ته نه شو ویلی.

د ذیشان دوی کور له دوی څخه په دې ورځ ډېر لرې تللی وو. پر لار پراته اغزي، ګګلېچونه او د سلګۍ خپې ابله قدمونه له خورا ستونزو ډک وو.

هر چا که د سلګۍ دغه حالت لیدلی وی، سترګې به یې له غمه او نمه پرې ډکې شوې وای. دواړه جوړه او لاس په لاس چټک روان وو، خو د سلګۍ په تصور کې د راتلونکي سربېره د خورکۍ اندېښنه هم مله وه.

په وروستي ځل سلګۍ شاته وکتل. له کوره یې ځان پسې یوه ستره ډله په منډو ولیده، خپلې خور ته یې د ګوتو په اشاره د خلکو ښودنه وکړه.

د دواړو په زړونو کې یو عالم خبرې وګرځېدې.

د نیولو په وخت کې د خپل انجام په ترخو پایلو هم خبر وو؛ ځکه خو یې خپل قدمونه له پخوا څخه څو چنده نور چټک کړل، خو د نجونو لکه د زړکې واړه قدمونه چېرته د زوورو سړو تر څغاستې رسېږي؟

د یو څه پښو اچولو وروسته د سلګۍ خور شا لورته له وېښتو رانښکل شوه. خپلې خور ته په کتو د سلګۍ زړه یوه شېبه ځړیکه وکړه. سخته خواشینې خو په خپل ځان یې له خوره ډېر زړه وخوږېد؛ ځکه په دې وخت کې د خپلې زنده ګۍ خیر غوښتل هم لومړیتوب وي؛ له همدې امله یې پښو کې د څغاستې وروستی ځواک تجربه کاوه.

د لږې منډې وروسته یې د شا له خوا په سر باندې یو کلک ګوزار وخوړ. دا ګوزار سم لکه تندر، د سلګۍ له ټول بدن سره یې د زړه اړیکې پرې کړې.

ساه یې بنده- بنده شوه، ژر یې د زړه په زور د اوږدې ساه اخېستلو هڅه وکړه، خو چې سترګې یې وغړېدې، ګوري چې سحرا کې نه؛ بلکې د خپلو ګډو- وډو وېښتانو سره مله هماغسې د خونې په کونج کې پرته ده. له پوزې تللې وینه یې لاسو کې وچه شوې. یو وار خپل او بیا د خوب حالت ته په کتو همداسې فکرونو کې لاړه.

د بېلابېلو فکرونو وروسته یې خپلې بې ګناهۍ او تکلیف لیدو ته یو وار بیا سترګو کې اوښکې راغلې.

خور یې د دې راپاڅېدو او وارخطایۍ ته پام وو، خو د وچو غزلي سترګو بیا ځلې نم کېدو سره یې زړه پرې وسوځېد. خواته ورغله.

تر ډېره یې په چوپه خوله د خپلې ویر وهلې خور ننداره وکړه. د کلي دود او د دې ضد ته په ډېرو ژورو چورتونو لاړه.

د سلګۍ سوړ اسويلي له دغو چورتونو راويستله.

غوښتل يې چې په نصيحتونو پيل وکړي، خو له وړاندې ترې سلګۍ د يواځې پاتې کېدا غوښتنه وکړه.

غوښتل يې چې د جدايي ښامار ته ځانته غاړه - غړۍ شي.

خور يې حالت ته په ليدو اړ شوه، چې څه وخت نور يې هم يواځې پرېږدي. په خاموشه خوله له خونې بهر شوه. يو څه وخت يې سلګۍ په سلګو کې يواځې پرېښوده، خو د ژړا په ډېرښت يې د اوښو ورووړلو په پلمه ګيلاس ډک او د خپلې دردېدلې خور څنګ ته ورغله.

سلګۍ له پخوا يو څه زړهٔ په ژړا تش کړی وو. سترې مالومېده. خور يې اوبه ورکړې. هغې هم په چوپه خوله ترې څو ګوټونه وکړل.

له لږې خاموشۍ وروسته يې خور سلګۍ ته په کتو ودردېده، سترګې يې ډکې شوې. لبريزه اوښکه يې له سترګو لاندې پر فرش ولوېده. دا چې سلګۍ له وړاندې ځمکې ته کتل، د خپلې خور اوښکې ته يې پام شو. په ځان او په خور يې بيا ځلې زړه وخوږېد. له خولې يې ژړغونې چغه ووته. دواړو خوېندو غاړه - غړۍ ښې کريکې وکړې.

لهٔ زړه تشېدو وروسته دواړو د يو بل سترګې د تسلۍ په پار پاکولې.

خور يې سلګۍ ته په ځاريو شوه:

خير دی خورې داسې مه کوه. دومره مه خپه کېږه او مه هم دومره زړه ته غم ورکوه. خدای مه کړه څه درباندې ونه شي.

سلګۍ دومره چورتونو کې ناسته وه، چې هېڅ خپلې خور ته غوږ نيولې نه ښکارېده.

بار - بار يې د خوښې کوټ مخته درېده، چې د نارامه زورونو له امله تار تار شو؛ لکه د اتکي به يې زړهٔ پسې سلګۍ وکړه.

کوټ نور له هر څه لوېدلی وو.
په ضد یې د شته دود پر وړاندې د بغاوت غاښونه چیچل، خو هېڅ یې نشو کړای.
د خپلې خور خبرې یې پرې او د کوټ غوښتنه یې ترې وکړه.
خور یې ویل، هغه مور بهر ډېران باندې خطاء کړ.
سلګۍ د دې خبرې په اورېدو برګه شوه، له ژړا سرې سترګې یې راووېستې.
له خور نه یې غوښتنه وکړه، چې کوټ ورته راوړي خو هغه بهر نه شوه تللې. له غوصې یې بیا ځل غاښ چیچلو ته زور ورکړ او په دردېدلي بدن له ځایه راپاڅېده. غوښتل یې چې خپله پسې لاړه شي او رایې وړي، خو خپله حیا پرې ډېره ګرانه وه.
فکر یې هېڅ جوړ نه وو. له خوره یې بیا - بیا غوښتنه کوله چې ورشي. خور ته یې فکر ورغی، چې له دروازې کوم ماشوم راوبلي څو پر ډېران غورځېدلی کوټ بېرته د سلګۍ تر ګوتو راوړي.
دواړو خویندو په نمجنو سترګو د ماشوم راتګ ته انتظار کاوه؛ کله - کله به یې د دروازې له کونجه هم د څار په پار وکتل.
د سلګۍ خور سپوږمۍ له دروازې بهر د کتلو سره ژر بېرته دننه شوه، خو د سلګۍ پام د خور پر ځای پر ډېران پراته کوټ ته وو.
ورپسې سم سلګۍ یو وار بیا له دروازې د ماشوم پیدا کولو په موخه وکتل، خور یې د شاه له خوا راکش کړه:
رانوځه، څه کوې!!
بهر نه ګورې چې ذیشان روان دی!!

د ذیشان نوم په اورېدو سلگۍ ټکان وخوړ. لکه کوم چا چې ناخبرې کې پرې بوږ کړې وي. تر لږ چورت وروسته یې د لا نور باور لپاره وپوښتل:

هن!؟

څوک؟

کوم دی؟

د ببرته کتلو سره ذیشان له دروازې تېر او دوی ته یې شاه شوې وه.

کشر ورور یې ورپسې روان وو، داسې ښکارېده چې بازار ته یې د سودا راوړلو لپاره ځان سره وړي. پر ورور یې سلگۍ غږ وکړ. ناخبره ماشوم زړه نازړه تر سلگۍ پورې دروازې څنگ ته راغی. سلگۍ ورنه له خپل ډېرانه د کوټ راوړلو هیله وکړه، خو ماشوم د ورور له وېرې چې ترې لاړ نه شي، د کوټ له راوړلو انکار وکړ.

ترې منډه یې کړه، سلگۍ هم ورپسې په تېزه غږ وکړ.

ذیشان چې یو څه وړاندې تللی وو، د نجلۍ چغې اورېدو له امله بېغ په خپل ځای ودرېد.

شاته یې خپل وړوکی ورور ولید، چې ترې پاتې او اوس د ده لور ته منډې وهي. ورنږدې کېدو سره یې ترې د څنډ او منډو پوښتنه وکړه.

ورور یې ورته د نجونو د غوښتنې او د ده د انکار وویل. دا چې ذیشان دغه کور کې د خپل بغاوت د بدرگې لپاره ملگرې موندلې وه، خپل ورور یې ځانته متوجه کړ:

لاړ شه او هر څه چې درته وایي، ویې کړه. زه به درته د هاغې ونې سیوري ته ولاړ یم!

ذیشان د ونې پر لور او ورور یې د سلګۍ دوی خواته حرکت وکړ.
ذیشان سیوري ته د رسېدو سره سم هغه کوله، چې سلګۍ یو وار وګوري، خو د ورور په لاس کې یې شین بخن څه ته ورپام شو. په غاړو کې لرونکو ښکلاوو یې پام خپل کړ. خپل ورور یې د ګوتو په اشاره د خان لور ته راوبله.
سلګۍ چې د ماشوم بل لور ته تګ ولید، ورغږ یې کړ:
دېخوا راشه ای!
دا چېرته ورې!؟
د لږ ښکاره کېدو سره د ذیشان او سلګۍ له لرې پر یو بل سترګې ولګېدې. که څه هم د یو بل مخونه یې سم نشو لیدلای، خو بیا هم د جسمونو په لیدو د دواړو بدنونه سست او بې دمې شول. حېرانی سره یې یو بل ته ژورو کې کتل. د وهلو او سهارني جنګ له امله د سلګۍ ټول وېښتان دومره ببر ولاړ وو، چې آن مخ یې هم محاصره کړی وو. خان ته یې هېڅ پام نه وو. ټوله توجو یې خپل کوټ او خیاط څوان ته وه.
خور یې پرې د ژر ننوتو غږ کړ. د سلګۍ ځانته پام شو. ژر د ذیشان له سترګو پنا شوه. په زړه یې سخته وېره له دې امله خپره شوه، چې د ذیشان ورور تار – تار کوټ د هغه خوا ته یووړ.
سلګۍ ډېره د ځمکې – ځمکې ولړېده، چې دغه ماشوم ذیشان ته له ورتګه راستون کړي، خو ماشوم د سلګۍ غوښتنې پرځای د ورور امر ته لومړیتوب ورکړ او د ذیشان په ګوتو له مینې ګنډل شوی کوټ یې تار – تار ورته لاسو کې ورکړ.

د کوټې په لیدو ذیشان باندې د حېرانۍ له امله سر وگرځېد. خای پر خای کېناست. ښه شېبه یې کوټ غېږ پورې ټینګ ونیوو.

بیا یې د کوټ پر لستوڼي وینې ته پام شو. د دود په څولنو کې د بند کلي په برخلیک یې ژر سر خلاص شو.

سخت خواشینی یې په اوښکو لوند څیرې شوی لستوڼی خپلو سترګو ته پورته کړ. له اوښکې او وینې یې د بغاوت خوشبویي حس کړه.

د سلګۍ اوښکو هم د ذیشان پرمخ سم ځانونه سریښ کړل؛ لکه سلګۍ چې ورته د ټولو اندېښنو نه د خلاصون لپاره د ورغاړې وتو لاربښوونه کړې وي.

خیالونو یې د ځوانۍ او مستۍ سرحدونه رالنډ کړل؛ لکه مېده باران یې ښه شېبه ورته اوښکې تویې کړې. د ټولې دنیا فکرونه او د مینې رنګونه یې د کوټ په رنګونو کې پلټل.

له بخته یې ښې ډېرې ګیلې وکړې.

د مالت خلکو ته یې اوس لپاره څه ویل په لاس کې نه وو.

د دود له امله یې سلګۍ ته تلل هم په توان کې نه وو؛ ځکه خو یې دغه کوڅه کې د خپلې ځوانۍ غرور تر پښو لاندې کړی وو او له خپلو سترګو یې مړې اوښکې تویولې.

ماشوم ورور یې له چورتونو او فکرونو وروسته په وړه خوله پوښتنه ترېنه وکړه:

لالا دا څه شی دی او ته ولې ورته ژاړې؟

په دې غږ د ذیشان زړه یوه لمبه وکړه. خپل ورور ته یې مراوي وکتل. غوښتل یې چې د ماشوم په څېر په چغو - چغو ورته وژاړي،

خو د هغه ماشومتوب او خپل لويتوب يې مخکې ودرېد. سوړ اسويلی يې ووېست.

چورت يې ووهه. په دې فکر وو، چې دې کوټ سره څه شی سلګی ته د لاس ننبه کړي؟

په جېبونو يې ګوتې ووهلې. يو قلم او وړوکی د جېب دسمال يې په لاس ولوېد. له بل جېبه يې بټوه راوېسته او د سلګی له خوا ورکړل شوې پيسې يې بېرته د شکېدلي کوټ په جېب کې کېښودې.

بيا يې قلم راواخېست او پر خپل سپين رنګه دسمال يې ورته وليکل:
((لاتحزن ان الله معنا)) ((خواشينې کېږه مه، الله له موږ سره دی.))

نور يې ډېر چورتونه ووهل، خو هېڅ بله لاره نه وه ورته پاتې. کوټ يې له خپلې غېږې جلا کړ. د دسمال سره يوځای يې ورور ته د وروړلو امر وکړ. زړه يې ويل، دا پيسې مې د لاس ننبه ساتلې وه، خو چې کوټ دې وانه غوست، پيسې هم بېرته واخله.

هلته سلګی له ډېرې وارخطايی د پرېشانی په اخري حد کې وه. ځان ورته ډېر کم ښکارېده، چې ذيشان په مينه ګنډل شوی کوټ پرته له اغوستلو تار - تار ويني. ځمکه ورته سره شګه ګرځېدلې وه. سلګی پرې لکه د جوارو پولی سم ټوپونه وهل.

نه يې بهر کتلی شو او نه يې هم غږ کولی شو؛ ځکه د مينې له لارې ورک خلک داسې وچ فکره وو، چې تل يې نورو کې د عېب پيدا کولو لپاره پلټنې کولې.

بس لکه ژوند کې چې د عبادت پرځای همدې چارې ته ژېږېدلي وي.

زړهٔ به يې لکه سوځېدلی زخم يوه - نيمه کړنګېدلې څړيکه وکړه. د بدن ټول تنابونه به يې ور سست کړل.

يو دم يې د ذيشان کشر ورور بېرته د ځان لور ته په حرکت وليد. اوله کې خوشاله، خو ژر يې په غصې ورته غاښونه وچيچل چې ولې يې کوټ تر ذيشانه يوړ. که په سلګۍ هر څومره غم وو، خو د ذيشان خفګان يې نشو ليدی.

ناخبره ماشوم د بې پروايۍ او سرکشۍ په کولو خپله خوله کړه او بېرته يې د ورور پر لور ورمنډه کړه.

سلګۍ ذيشان ته په نږدې فاصله کې وه، خو بيا يې هم د سترګو سمندر د ناهيلۍ اوښکې شيندلې. د وېرې، درد او خفګان له امله يې ټول بدن رپېده. وچو شونډو ته په کتو يې له ورايه د ځوانۍ په ګلستان د غمونو او دردونو نښې ښکارېدې.

کشرې خور يې د کوټ په منځ کې نغښتی دسمال وروښود. سلګۍ په بيړې راواخېست. ليکل شوې کرښې يې سترګو ته نږدې کړې. له اوښکو نه په ډکو سترګو کې ليکل جال - جال ښکارېدل، خو بيا هم مطلب ترې واخيستل شو.

د ليکلو له ليدلو وروسته پرې ذيشان له پخوا لا نور ډېر ګران شو.

دسمال يې مخ پورې ټينګ ونيوو؛ سم يې زړهٔ پرې خپل سکون کړ.

زړهٔ کې يې بلها ډېرې پوښتنې راغلې:

ولې دا خلک د اسلاميت او محبت نامه او جامه په ځان نه پرېږدي!

د محبت سرونه د بد دود لپاره تر داره رسوي.

د هر څه په لاس کې د ظلم او زور کاڼي دي. د خپلې نادودې پولې ساتلو لپاره پرې خلک ولي.

ځانته له متوجه کېدو وروسته کراره د خونې پر لور روانه شوه، خو لکه څوک چې ترې زړهٔ په زوره له تېره باسي، لږ وو چې د بغاوتي جذبې له امله یې خولې نه چغې وتلې وای.

ذیشان یو خوا او سلګۍ بله خوا ناهیلي ستانهٔ شول.

د دې ځای د خلکو په سترګو کې د دود ګردونه پراته وو. اړتیا وه چې د مینې په زم – زم باندې وینځل شوی وای، خو دوی دغو پاکو اوبو ته له ډېره لرې ورخونه تړلي وو.

د ذهنونو محلونه یې په بېدیاوو بدل وو.

که څه هم ذیشان ته چا څه ونه ویل، خو هغه له ځانه ډېر پر سلګۍ باندې خوابدی و.

ځان سره یې کلکه پرېکړه وکړه، چې نور باید دغه حالت ته د پای ټکی کېږدي او که په دې هڅه یې د معشوقې له کوڅې خاورې هم په سر باد شي، غنیمت به یې وګڼي.

چې کله بېرته خپل کور ته ورسېد، مینې یې ټوله وېره او شرمونه له منځه وړي وو. خپلې مور سره دوه په دوه کېناست. کلي کې د محبت د فصل کَر په موخه یې د خپل بغاوت ټوله کیسه مور ته وکړه.

له ځینو خبرو یې مور ناخبره وه. په خبرېدو یې د مور له سترګو پردې پورته لاړې. په رډو سترګو یې له زویه بیا ځلې د خبرو تکرار وغوښت.

د بغاوت په اور ګرم شوي ذیشان بیا ځلې پرته له وېرې د خپلې نالیدلې مینې کیسه مور ته وکړه.

مور یې چې د دود په زنځیرونو تړلې خبرې واورېدې، غوني یې ودرېدل. غوښتل یې ډېر څه په ځواب کې ورته ووایي، خو دا چې

ذیشان پرې ډېر ګران وو، په کراری یې د کلي په شته دودونو ورته د سر خلاصولو هڅې پیل کړې. ذیشان زړه ته دا ټولې خبرې هسې د وخت ضایع ښکارېده.

له ډېرو خبرو وروسته چې د مور خبرې یې یو څه سستې شوې، ذیشان ورغبرګه کړه:

مور جانې!

په دې هر څه خبر یم پوهېږم، خو زما زړه درد کوي خوړېږي. نشم کولای له خپل بغاوته لاس په سر شم.

که پر دې لاره دا دود ما لکه ښامار وخوري هم تیار یم، خو نه پرېږم چې دا دود مو نور له خپلې خوښې او ټاکنې بې برخې کړي.

مور یې چې د کلي سپور دودونه او د زوی سرکشه زورونه ولیدل، زړه یې وښوېد.

ترې پوښتنه یې وکړه:

ته اوس څه کول غواړې؟

- زه په خپله خوښه سلګۍ د خپل ژوند ملګرې غواړم.

مور یې پر داسې سپین سترګو خبرو لا نوره حېرانه شوه.

د داسې زورونو د پایلو له وېرې یې زړهٔ کې ډېر، زیات او کم تېر - راتېر شول، خو ژر یې ځان ارامه کړ. د چارې د حل په لټه یې د فکر کولو تکل وکړ.

د زوی پر سر یې لاس راښکه او غوښتنه یې ترې وکړه، چې باید پر شوې بغاوت او ټاکنې یې نور څوک خبر نه شي. په دې نه وه خبره چې له زوی یې د کلي ټول زلمي خبر دي.

مور يې ټوله ورځ په دې حيرانۍ تېره کړه، چې څنګه او چاته د دود دغه جرم بيان کړي؟
ماښام شو، د ذيشان مور ځان سره پرېکړه وکړه، چې له ټولو وړاندې بايد خپل د ژوند ملګرى چې د ذيشان پلار دى، خبر کړي.
ډېره هڅه يې وکړه چې خپل خاوند ته د ذيشان په اړه ووايي، خو هيڅ يې نشول. يوه ناچاره مېرمن به څنګه د دود له پولو دغه بغاوتي خبرې خپل تريخ خاوند ته وکړي؟
په سبا ورځ يې ذيشان هڅه کوله، چې له موره د حل لارې پوښتنه وکړي، خو له وړاندې يې مور پرې پوهه شوه.
ذيشان يې ځانته راوغوښت. يو وار بيا يې ورته له دغو کړنو د اوښتو نصيحتونه وکړل، خو بغاوتي ځوان په کلکې ارادې د خپلې مور هره غوښتنه د سر په ښورولو ردوله.
پاى کې يې مور ورته تسليمه او دې ته يې غاړه کېښوده، چې بېګانه به يې پلار سره د حل په موخه دغه موضوع خامخا شريکوي.
ورځ تېره او شپه راغله. مور يې دا وار د شوې وعدې له امله ډېره بې کراره وه. هر وار يې هڅه کوله چې خپله خوله د ذيشان په کيسه خپل خاوند ته خلاصه کړي، خو نه يې شو کولاى.
دا انګېرنه به ډېره ستونزمنه وي، چې د يوې مهربانې مور حالت په داسې وخت کې وارزول شي؛ ځکه يو لور ته ګرانګ او بل لور ته پړانګ ته غاړې وتل وو، خو د ذيشان مور له ګړنګ نه د زوى ساتلو لپاره د پړانګ په خېر تُند خويه خاوند ته مخامخ شوه.
د خبرو پيل سره ترې خوله اخوا - دېخوا لاړه، د خاوند له لوري د خو وار پوښتلو وروسته يې د ذيشان په کيسې ورته سر خلاص کړ.

د کیسي په کولو یې د خاوند تندی وار په وار گونځې کېده. د ذیشان د تېنگار خبرو په اورېدو یې خاوند په غصه ناک غږ له مېرمنې د خاموشه کېدو غوښتنه وکړه.

د دودیز جرم له اورېدو او په اړه یې د تُند غبرگون ښودو وروسته د یوې شېبې لپاره ژور سوچ وکړ. سمه خوَله پرې راغله خو د حل لارې په پیدا کولو کې بیا هم پاتې وو.

له مېرمنې یې د دې خبرې د خاموشه کولو غوښتنه وکړه، خو هغې د زوی تېنگار ته په کتو زړهٔ کې د خاوند د پوهولو په هڅه وارخطاء سترگې بره - ښکته کړې، اما د پلوی لپاره تېنگار کې پاتې راغله.

همداسې وشول. ډېرې ورځې تېرې شوې. ذیشان هم د خپلو والدینو پَل اخېستو ته سترگې پر لار وو.

بلاخره دې انتظار په ذیشان کړی راتنگه او بیا ځلې له خپلې موره پوښتنې ته اړ شو.

هغې په خواشینی ورته د پلار فکر بیان کړ، خو ژمنه یې دا وه چې د لږ وخت په تېرېدو به یې پلار ورته خامخا راضي کوي؛ اما د ذیشان ذهن چې د انکار له امله انگازې کولې، په ناهیلې بنه اوچت پاځېد او له کوره لرې یې له کړنگېدلي لمره د یوې ونې سیوري ته پناه یوړه.

فکر یې جنجالي حالت کې هېڅ لور ته د تگ توان نه درلود.

د ناهیلی په وروستي حد کې و. د وخت په تېرېدو یې لېوالتیا له رڼاگانو ښخه لرې د تیارو او ترگمیو خواته ډېرېده. د هېڅا خواته ورتگ یې نه خوښېده.

اور ته نيولې دردوونکې جدايي پرې تورې شپې په ويښه سبا کولې،
د دود ځنځيرونو پر وړاندې يې کړکه ورځ تر بلې ډېرېده.
نور نو بغاوت دومره زور کړی و، چې ذيشان پر سلگی بيخي مين
ښکارېده.
کله به چې ځانته کېناست، خپلې ناليدلې مينې ته په خطاب به يې
ويل، مرمه هېڅ مې له تا بغير گزران نه کيږي، دغه جذبه کې به يې
د لرونکو فاصلو له امله زړهٔ کې بې شمېره گيلې راغلې:
ښه ولې؟
ايا دا جرم دی!؟
زم مجرم يم!؟
که زه مجرم وم ما په دار کړئ!
د غصې او جذبې له امله يې خپل زړه د ارمانونو قبرستان گاڼه.
خو د غوټو وهلو او درياب کې د گوهر موندلو خبرې يې زړه ته يو
څه زور ورکوو. ژر يې له اوښکو ډنډ شوې سترگې وچې کړې.
ذيشان نور ورځ تر بلې ستړی کېده. د ژوند په دوام يې د داسې کس
لټون کاوه، چې د غمجن زړه فرياد ورته بيان او د ده برباد ژوندون
اباد کړي، خو دغه کلي کې د داسې کس پيدا کول د هندو په کور
کې د قران موندل وو.
د دغو خلکو په زړونو کې نفرتونه وو. تل يې خپل لاسونه د هغه چا
په گرېوانه کې ساتل، چې له دوده به سرکشه شول. د مينتوب په اړه
خو پوښتنه مه کوه.
مينان اړ ول، چې د ښو په څوکو د اوښکو شمې بلې او د ځمکې پر
ځای اسمان کې د ستورو په ليدو زړونه سکون کړي.

د دغه کلي نوي نسل کې هم د فکر رغولو ډېر څه نه تر سترګو کېدل. هماسې لکه د پلرونو به یې د دود چړې په تېکو کې ګرځولې. له همدې امله به مجبور خلک اړ ول، چې پټ دردونه هماغسې پټ په زړهٔ تېر کړي.

خو ذیشان په هېڅ قیمت له خپل بغاوت او تاکنې په شا کېدونکی نه وو. هغه انګېرلې وه چې بریالیتوب ته ورتګ یې له ډېرو تکلیفونو او شبګیرونو وروسته دی، خو له دې برخلیکه ناخبره وو چې کېدای شي دا د ده او یا د سلګۍ د ژوند په پای ختمه شي؛ اما تمه یې د ښو پایلو لرله. له همدې امله یې هر ګام پرته له شره په ډېر تدبیر اخیست.

ذیشان باید د خپلې بریا لپاره د دغه ظلم او زور ډېرې لاسونه لنډ کړي وای، چې دا کړنه په یواځې ځان ډېره ستونزمنه وه، خو د دې ځواک په تینګښت کې دومره خوند وو، چې د مبارزې هېڅ رنګ نه ور رسېد.

د ذیشان زړه به هر وخت د کېدونکو فکرونو له امله ناکراره او په دربا وو. دا چې خوله یې د دود ځولنو ورتړلې وه، د خیالونو په نړۍ کې به یې یوه بله نړۍ جوړه او د خپل بغاوت د بریا جشنونه به یې لمانځل.

هاخوا سلګۍ هم د ورځې په تېرېدو خپل بغاوت ته نوي رنګونه پلټل.

د ډېرې ناچارۍ شپې ـ ورځې یې تېرولې.
د خپل بغاوت ملګرې یې اوس ښه پېژنده.
له هلو ـ ځلو یې هم خبرېده.

خبره شوې وه چې له موره یې سلګۍ غوښتې ده.

هره ورځ به یې کور کې له دې امله تور څادر پر سر او ځان به یې مرور کړ، چې د ذیشان مور به په جرګه ورځي، خو بېرته به یې د شپې د کورنۍ له غړو سره ناهیلې پخلاینه وکړه. له ځانه مروره به خپلې بسترې ته لاړه.

د ذیشان له لورې لېږل شوی هغه سپین رنګه دسمال او په کې لیکل شوی د قران ایات یې هر وار تر شونډو کلک نیوو. دا تر شونډو نیوَنه دومره ډېره شوې وه، چې آن په سپین رنګه دسمال باندې د شونډو نښاپونه او رتې لګېدلې وې، خو سلګۍ نه غوښتل چې په وینځلو یې د ذیشان د لاس او جسم ورږم لاړ شي.

سلګۍ ته تر ټولو وړاندې درجه کې همدې دسمال کرار درلود. له هر لمانځه وروسته به یې د دعا سره سم تر سترګو پورته کاوه او له ربه یې د خپل بغاوت بریا غوښتله.

د شپې به یې کله ناکله له رنې سپوږمۍ سره هم خبرې او ګیلې وکړې.

د دوی د مینې په ډېربښت کې تر ډېره د کلي پېغلو نجونو او ځوانانو رول درلود، چې دواړو ته به یې د بغاوت یادونې او د یو بل ستاینې کولې.

له همدې امله د یو بل په حافظه کې پراته وو. ذیشان به رب ته په اوښکو لمدې سترګې د وصال لپاره وړاندې کولې.

خو نورې سختې شپې- ورځې هم تېرې شوې، ذیشان هم د پوهنتون وروستیو ازموینو ته په تیاریو بوخت وو.

چېتر په لاس يې پوله باندې د زده کړې هڅه کوله، خو د ناليدلې مينې شينکې خالونو چېرته په ارام زړهٔ زده کړې ته پرېښوده؟
ډېر کله به يې چېتر کې د شته کليمو پرځای فکر کې شته بغاوت مخته شو، خو بيا يې هم مبارزه کوله او په زور يې د چېتر کليمات ذهن ته ښکته کول.
لوستل يې وروستي وو. د ماښام اذان پرې وشو. په پوله يې خادر خور او لمونځ يې وکړ. د لمانځه تر خلاصېدو وروسته يې د خپلې دعا ډېره برخه د خپلې بغاوتي مبارزې بريا ته ځانګړې کړې وه.
روانېدو سره سم خپل کليوال ملګري سره مخامخ شو. په ټوکو او خبرو سره روان وو. د سلګۍ له کوره يې د ځو نجونو او مېرمنو راوتل وليدل. ټکان يې وخوړ. روان ملګري ته يې په ټوکو ويل:
سلګۍ دوی خو ستاسې لرې غوندې خپلوان دي، دې ډله کې خو به سلګۍ نه وي؟
هغه ورته ترخه غوندې مسکاه وکړه.
ضد راواخېست. ډله کې تر ټولو لنډه او بدرنګه نجلۍ ته يې ګوته ونيوه:
هاغه درېيمه نجلۍ چې له ټولو وروسته روانه ده، هماغه ده!
ذيشان چې په هماغې ډلې يې سترګې ښخې کړې وې، بيا خل پوښتنه وکړه؛ رښتيا ووايه!
په ملګري يې د لا نورې کرکې جذبه راغله. پر خپلې تېرې خبرې يې بيا ځل ټينګار وکړ.
ذيشان چې د خپلې مينې سترګې يې پرې ښخې کړې، هېڅ بې پرې د لرونکې مينې تنده ماته نه شوه.

زړه کې يې هغه تېر ليدل چې د کوټ پسې وتلې وه، سترګو ته شول.

زړهٔ يې نه منل، خو د دې کس اطمناني خبرې هم بې اغېزې نه وې.

په يو ډول سترګو دوه ډوله ليدو يې ذهن کې د پوښتنو شور ګډ شو.

ځان سره په سوچ شو:

له لرې مې دې غمونه خوري، اما ليدلو خو دې هېڅ خوند رانه کړ.

د ذيشان زړه بيخي بل ډول حرکات پيل کړل، د نجلۍ تيټ قد او له ټولو شاته بې خونده کوږ -ووږ مزل يې زړهٔ بيخي تنهاکې کړ.

د هر چا په هرې خبرې باور کول همداسې وي. کله چې د نورو خبرې پرته له فکري څېړنې تاييد شي، له دې ډېر درد پنځوي.

کور ته لاړ. په سوچونو کې يې هغه خپل مخکيني خيالي فکرونه ګرځېدل.

هغه زړه وړونکی قد، مستې خنداګانې او ښکلې اداګانې چې ذيشان په خپل فکر کې راوستې وې، يوه يې هم په کې ونه مونده.

په دې شپه هېڅ خوب نه ورته. سهار ته نږدې پرې خوب خپل څادر خور کړ. ګوري چې سلګۍ سپين لباس کې سور شال په سر کړی.

ناکاره ذيشان په دې هڅې ورمنډه کړه چې ګوندې يو وار يې له نږدې وګورې، خو هغې ترې مخ په سور شال باندې پټ کړی وو.

هېڅ يې نه غوښتل، چې ذيشان ته خپل د مخ رنګونه ورښکاره کړي.

ذيشان له يو څه هڅې وروسته په زارۍ ورته لګيا شو:

ای سلگۍ!
ته نه يې خبره چې پر ما څومره ګرانه يې؟
ما ستا لپاره هر ستم منلی او ستا د مينې لپاره مې پاللی دی؟
ولې اوس مخ له ما اړوې!؟
ذيشان که په خوب ارام پروت ښکارېده، خو اروا يې په ډېرې بې صبرۍ حالت کې کرار درلود.
د ده چې له ډېرې ژړا سترګې سمې سرې شوې وې، بيا - بيا يې له سلګۍ د مخ نه ښودلو علت پوښته.
د پوښتلو له ډېر ټينګار وروسته ذيشان يو څه سترې او په دواړو خاموشۍ وزرې خورې کړې.
سلګۍ په ارام غږ خپلې سرې شونډې په خبرو وخوځولې:
ته نور ماته مهٔ ګوره!
ستا سترګې اوس بدلې شوې دي. له تا د بغاوت او وفا ټولې هيلې هېرې شوې.
زه هم هغسې نه يم چې پخوا ومه. ستا په فکر کې هغه بغاوت نه نشته. سترګو کې دې هم اوس هغه مينه نه ده پاتې. په عاجزۍ درنه ببړنه خپل درکړل شوی زړه غواړم. هيله ده چې دا وروستۍ غوښتنه مې ومنې.
د دې خبرو په اورېدو لهٔ ډېرې حېرانتيا د ذيشان خوله خلاصه پاتې شوه:
نا!!!! سلګۍ داسې مهٔ وايه!
زه به ټول عمر په تا پايم. خير دی د دې ګړګجنو خبرو پرځای راته يو وار ووايه چې ستا يم!

د سلګۍ غږ چې دا وار له پخوا ډېر ژړغونی وو، مړی کې ننتې سلګۍ یې تېره او بېرته یې د خبرو وار واخېست:

ته په ما څه کوې هن؟

تاته دې خدای د زړه وړونکي قد لورونکې، د مستي خندا او ښکلې ادا نجلی پیدا کړي، چې ښه ښایسته زړه وړونکی اندام هم ولري.

زما خو ټیټ قد، کوږ- ووږ مزل دی، تاته به هېڅ خوند درنه کړي!

زه په خپلو اداګانو تاته خوښي او د مینې سکون نه شم درکوی!

ذیشان د دې خبرو په اورېدو هک - پک شو، چې زما د زړه خبرې څنګه تر سلګۍ رسېدلي؟

سلګۍ یې تللی سوچ بېرته په خپل غږ د ځان لور ته راجلب کړ:

فکر مه کوه چې ستا د زړه خبرې تر ما چا راوړې؟ دا که رېبار وي یا شیطان. زما خپل زړهٔ دی چې ستا تېر کې پروت او ماته ستا له فکره رویباري کوي.

ولې به یې نه کوي. موږ یو هدف درلود. د ناوړه دودونو پر وړاندې بغاوت. ما دلته او تا هلته. اخر څه وشول؟ تا بغاوت له مینې قربان کړ؟ که دې مینې د بغاوت ازار واخېست، نو دا ومنه چې مینه به دې هم د دغه دود قرباني کېږي. لکه د نورو نوم پاتې خلکو چې قرباني شوی.

د سلګۍ په تورو زلفو پروت شال ورو - ورو ښکته کېده؛ ذیشان هم شال ته برګ وو چې کله به ترې لرې او دا خپله مینه ننداره کړي، خو سلګۍ لکه ناوې چې وي، په سرو منګولو یې شال بېرته پورته لور ته بوور.

د ذیشان زړه په دې پورته کولو یوه څړیکه وکړه. ځان ورته ملامت ښکارېده. په خولې یې د اظهار لپاره هېڅ نه لرل.

هڅه یې کوله یو څه ووایي، خو د سلګی مخکینی خبرې ورپه زړه شوې، بېرته خاموش او سوړ اسوېلی یې وویست.

د لږ وخت وروسته یې بیا ځل د سلګی نازک غږ تر غوږ شو:

ذیشان!

ستا په دې حالت مې زړه ډېر درد کوي، خو زما هم له غوصې نه ارمانونه یو بل پسې کندې ته لویږي.

ستا مینه په لباسونو ده. ظاهري مینه. ځکه خو دې نن هم ټول پام زما د زړهٔ او فکر پرځای سر باندې پروت شال ته دی.

زموږ دغه نیمه لاره تر منزله نه شي رسېدلی او نه هم ستا د زړه فریاد تا ښادولی شي.

هسې به دې له سترګو نه خوبونه والوځوې؛ ځکه کېدای شي همدې ورځو کې زموږ شوی بغاوت سر وخوري. زه نوره ډېره ستړې یم.

چېرته یو کس او چېرته ټول کور؟

زه یې نوره تسلیمی ته مجبوره کړې یم. زما نوم دوی په بل کور کې له بل چا سره تړي. سم لکه د کلي د نورو نجونو.

د دې خبرې په اورېدو سره ذیشان په بې واکه ډول د سلګی خبرې پرې او په چغه یې وویل:

دا ته څه وایې پوهېږې!!!؟

زما یواځې تاته سترګې دي!

ته څنګه د بغاوت پر لار له خپلو شویو قسمونو تېرېږې؟

او لا اوس خو ستا د مينې خواږه زما په زړه او ذهن دواړو کې په غورځنګ دي.

په لړې چوپتيا يې ځان ببرته ارام کړ. په کرار غږ يې د سلګۍ د پوهولو هڅه پيل کړه.

ګوره سلګۍ!

دا دومره زيارونه، بيا زموږ د دواړو بغاوتونه، کلي کې د پېغلو او ځوانانو شرمونه، دا به چېرته وړې؟

دا د دودونو ځولنې به مو ورځ تر بلې د زړه غمونه زياتوي. که تسليم شو، بيا نو زموږ موخه څه شوه؟

موږ تسليمې ته نه، بغاوت ته متې بډوهلي.

او لا اوس خو مې زړه کې د مينې خبرې هم تودې شوي.

ته به زما د زړه په خبرو خبره يې، خو خير دی يو وار زما د مينې په حقيقت باندې هم نظر واچوه، چې تاته څه لري او څه درڅخه غواړي؟

زما د زړه په چمن ستا له لاسه اور بل دی سوځېږمه؛ ته د دې اور لمبې ولې نه وينې!؟

ولې دوم

ره ناروا وايې!؟

له يو څه چوپتيا وروسته سلګۍ ترې وپوښتل:

نورې پوښتنې هم شته او که خلاصې شوې؟

- زما په نورو پوښتنو ته به پوهېږې، ماته د همدې پوښتنو ځواب راکړه!

د دې خبرو په اورېدو سلګۍ نبغه ودرېده او د ذیشان له خنګه یې کرار - کرار تګ پیل کړ. د قدم وهلو پرمهال یې خپلې خبرې ذیشان ته وکړې:

ستا لپاره زما مینه زندان دی او په زندان کې خو پوهېږې، چې ژوند ګران دی. ستا له خنګه زه په تلو یم. درپورې تړل شوې زړه هم بېرته بېلوم. هیله کوم چې زړه مې هم راپسې وشړې. که نه راته بنه یې ورتېږ، درد ورکړې خفګان ورکړې، خو تاته له درګه کرار شي.

سلګۍ چې د بغاوت او د مینې نشې خوماره کړې وه، زړهٔ نا زړهٔ کرار تګ یې ذیشان لا نور ناکرار کاوه.

د خبرو په جریان کې د سلګۍ له غټو سترګو رڼې اوښکې په اننګو راغلې، خو بیا یې هم غوښتل خپل ټکي نور وایي:

ته که وګورې همدا اوس هم زما په سترګو کې ستا د مینې ستوري رڼا کوي ځلیږي، خو دا رڼا زما د مینې له امله ده، چې تاسره مې په نالیدلې ډول لړله او که ته چېرته د دغې لرونکي بنکلا پرځای هر څومره هم بدرنګه او بې خونده وای، ما به په خوله څه چې زړه کې هم څه نه وو ګرځولي.

ذیشان!

ما بې اسرې وګڼه، تېر هېر کړه. نه کوم بغاوت شته او نه هم د سلګۍ په نامه کومه بغاوت کوونکې.

د سلګۍ پام نه وو چې د خبرو اورېدو لپاره یې ذیشان ورپسې سم ور روان دی، خو د هېرولو خبرې په اورېدو ذیشان ته یواځې یوه جمله خولې ته راغله:

خدای مې دې مړ کړي چې به زه تا هېرومه!

د مرګ کليمې په اوربدو سلګۍ په سختۍ غوصې يو دم ذيشان لور ته وکتل او د هغه پر مخ يې په خپلو نازکو ګوتو د خپېړې ګوزار وکړ. ذيشان يې ژر لاس له مړونده هماسې د مخ پورې ټينګ ونيوو. خپېړې ته يې هېڅ پام نه وو. سلګۍ ته په کتو يې ژړغونې مسکا وکړه. سلګۍ د ذيشان بدن په لمس کولو ورو - ورو د بې هوښۍ لور ته لاړه. د لوېدو سره سم ذيشان په تېزۍ سلګۍ ته لاس ور وړاندې کړ، د ټکان خوړو سره سم يې له خوبه سترګې وغړېدې.

لږ وخت د مړوند نيولو په خوند ډوب وو، خو چې فکر يې په ټول ليدلي خوب وځرخوو، په پروني فکر سخت پښېمانه او زړه يې ډېر ناکراره شو. د سوچ په ژوروالي يې کرار - کرار ژړا ته زړه کېده. ولې به نه کېده؟ د بغاوت او مينې دېوالونه په جوړښت کې د سترګو اوبه غواړي.

د لږ وخت په تېرېدو يې سلګيو باندې پيل وکړ.

ښه ډېر يې وژل او لا نور يې هم ژړل، چې يوه خور يې خونې ته ورغله. خپلې رازدارې خور ته يې په ژړا - ژړا کې ټول جريان وويل.

خور يې که څه هم د ورور په ژړا ډېره خواشينې شوه، خو د ټيټ قد او بې خونده مزل خبرو په اورېدو يې ورور پورې وخندل.

د ورور له پوښتلو وړاندې يې ورغبرګه کړه:

لېونيه ذيشانه!

په هغه ورځ تا کومه بله ليدلې، سلګۍ نه قد ټيټ لري او نه يې هم مزل دومره بې خونده دی. دا درسره ستا ملګري ټوکې کړي.

هغه نجلۍ کېدای شي زموږ هغه بله ګاونډۍ نجلۍ وي، چې خپل ورور ته خپلوۍ پسې ګرځي.

ذیشان د خپلوۍ کلیمې په اورېدو زړه کې د "اخ" په کولو ژور خفګان احساس کړ، خو د ځان یقیني کولو لپاره یې موبایل راواخېست او هغه ګاونډي ملګري ته یې زنګ ورووهه. هغې هم ورته په خندا- خندا د خپلو دروغو اقرار وکړ.

د ذیشان زړه څه بل ډول حالت خپل کړی وو. یو لور ته حېرانتیا، بل لور پښېمانتیا او په ټوله کې یې د ځان ناخبرتیا بیخي بل شان کړی و.

له خوره د بار- بار منننې وروسته یې ځان سره ویل:

زما خوږې سلګۍ!

ما وبښه، ما ستا په ښکلا باندې د بدرنګ والي شک وکړ.

رویباری څخه له خبرېدو وروسته د ذیشان خولې زړه ته د ډېرو خبرو په کولو ټینګار کاوه، خو عقل یې لکه سکرېچ کېښت ځای - ځای سکته کوله.

کور کې ډېر ناکرار معلومېده. مور یې پوهه شوه چې زوی یې د څه ویلو لپاره بې کراره دی. تر زنې یې ونیوو او خپل زوی ته په ټول پام یې هغه ته د اورېدو توجو وکړه.

زوی یې سل زړونه یو او د راز ټولې خبرې یې مور ته وکړې. سم لکه ماشوم یې په زاریو د زړه ارمان پوره کېدا لپاره له خپلې موره غوښتنې کولې.

خو د خوارو په دغه کلي کې هسې -بېسه مېنو ته ازار شوی وو.

مور يې هم يو خوا ته دود او بل لور ته د زوی جذبې رانيولې وه.

په مات - مات زړه يې زوی ته له دغې کړنې د تېرېدو غوښتنې کولې، خو لېوني ذيشان لپاره چېرته دا ډول خبرې د منلو وې.

د همدې انکار او اظهار په دعوو وروستيو کې د مور او زوی خبرې سره يو څه تېزې شوې.

پر ذيشان له بغاوت وروسته ناليدلې مينې دومره زور کړی و، چې پرې دار ته په ختلو هم راضي وو.

اوس نو هغه لپاره سلګۍ لکه د بنګو بوټۍ داسې و، چې د نوم په اورېدو به پرې بې واره نشه راغله.

ذيشان پوهېده چې خپلې مور سره بايد دا ډول خبرې ونه کړي، خو کله چې خپل حق له چا اخيستل کيږي، ډېر زور ورکوي. ځان يې د ناروا دود له امله د بېچارګۍ په اخري حد کې يواځې ليده. بيا يې چې له موره هم ناروا اورېده، د فرياد او غم شريکولو کس به ترې ورک شو. زړهٔ به يې لکه انګار او سکروټه داسې سره شوه. ټول بدن به يې ورته سېځه. بيا نو اړ وو چې له دې اوره د خلاصون لپاره هر کار تجربه او هرې کړنې ته لاس واچوي، څو ځان پرې سکون کړي.

ډېرې پيسې يې په تعويزونو او شکرانو نذرانه کړې، خو ذره بره يې د دود په دېوالونو باندې اغېز ونه کړ.

هېڅ يې نشو کولای چې خپله مينه په زړهٔ کې همداسې پټه وساتي؛ څکه ورځ تر بلې به يې جسم کې د سلګۍ مينې وده کوله.

دغې مينې ذيشان نه پرېښود، چې له خپلې هيلې او ارمانه تېر شي، خو بل لور ته يې شونډو هم د بند پاتې کېدو اجازه نه درلوده.

له ځو ورځو تېرېدو وروسته يې چې خپله مور ځانته وليده، ځنګ ته ورغی او لکه سوالګر يې پښو ته کېناست. په خاموشی يې مور پوهه شوه، چې په مينه کې ملنګ زوی يې ترې څۀ غواړي؟

مور يې همدې سوچ کې وه، چې زوی ته يې له کومه خايه پيل کړي؟ چوپتيا اوږدېدله. زوی يې په کرار غږ شونډې وښورولې:

له مينې انکاري او د زړونو ازاري خلکو خو به درته زما د غوښتنې په څواب کې څه نه وي ويلي؟

له يو څه فکر کولو وروسته يې مور غوښتل چې تسلي او قناعت دواړه ورته وړاندې کړي، خو د ذيشان ترخې مسکاه ته په پام يې د خبرو زاويه بدله کړه:

زويه!

ته به د شته دود پر وړاندې د بغاوت له امله خپل ژوند نه هېڅ خوند وانخلې. زما ومنه. بل ځای به درته په خپله خوښه چنغله وګورم.

له ځو نورو خبرو وروسته د ذيشان صبر ختم او په ترش تندي يې له ځمکې پورته وکتل:

مورې!

زما پر خپل ځان باور دی. ته به وګورې، چې زه څنګه د دغو خلکو انکاري شونډې پلستروم او خپل ځان بريالی کوم؟

ذيشان نور هم ژړغونی شو:

ستا خو واک چليږي کنه مورې!

ولې مو پر زړونو رحم نه کوئ؟

پخدای نور مې د زړه مجال نشته!

د هغوی کور وران شه، چې لا دا دودونه به پالي!

دا چې تا خپله ناچاري راته بیان کړه، همدا بس دی!

ته به اوس د خپل زوی د بغاوت څواک وګورې!

که ما څوک پر سلګی مېن بولي، نو ودې بولي.

هو، زه مېن یم!

دا پاکه او سپېڅلې مینه به مې دغه ټول خلک خپل ځان ته حېران کړي.

دوی به په رډو سترګو ګوري او زه به د خپلې مینې پر لور څواکمن ګامونه اخلم.

همداسې خفه له کوره ووت. مرور یې څو شپې له کوره بهر د خیاطي دوکان کې تېرې کړې.

د دوی شوی بغاوت چې اوس د مینې نوم هم ورپورې تړل شوی، پایلې ته یې د کلي ډېری ځوانان او پېغلې سترګې پر لار وو.

له څو شپو - ورځو وروسته ورک ذیشان د کور په وره ننوت. مور او خویندو یې ورمنډه کړه. که څه هم د ذیشان په مرورتیا خبر وو، خو بیا یې هم له هغه په ژړغوني غږ د نه راتلو پوښتنه کوله.

د ذیشان زړه کې مجال نه وو، په ډکو سترګو یې ترې د خپلې خونې پر لور حرکت وکړ.

په ژورو فکرونو کې پروت وو. پلار او دوه مشران وروڼه یې خونې ته ننوتل.

ذیشان خپل پلار او مشرانو وروڼو ته د درناوي لپاره خپل ځای کې نیغ کېناست. د هغوی په سترګو او تندې کې د غصې ګونځو وډار کړ. غوښتل یې چې یو څه ووایي، خو پلار مخ ته په کتو یې بېرته سترګې ځمکې لور ته ښکته کړې.

یوه دقیقه لا نه وه تېره چې پلار یې ترې له دوده د بغاوت په اړه وپوښتل.

ذیشان سر ښکته اچولی و. په چوپه خوله یې ځمکه ګروله، چې یو درون ګوزار یې ټول حالت وربدل کړ.

ګوزار پسې ګوزار د ذیشان د زړه غمونه په جسمي زخمونو بدل کړل.

د بې کرکې وهلو په هر ګوزار به یې ورته له دغې لېونتوبه د کرارېدو غوښتنه کوله.

دا له بغاوته د ذیشان د پښېمانه کولو لومړنۍ هڅه وه.

د دردونو له امله نه؛ د دودونو له لاسه یې سترګو ته اوښکې او زړه ته ژړا راتله.

له کوره در په در ذیشان به په سلګو کې ساه بنده - بنده شوه.

خونه کې یې د زړه او جسم دواړه دردونه په یواځې ځان تېرول. بهر یې مور او څو خویندو هم د ورور په حالت ساندې وهلې، خو د پلار او ورونړو له وېرې ورته نږدې نشو ورتلی.

ذیشان څو ورځې په همدې خونه کې نظربند وساتل شو، خو بیا هم له دومره وهلو وروسته یې زړه کې له بغاوته د پښېمانتیا ذره بره څرک نه تر سترګو کېده.

په زخمي بدن پروت یې د حل لارې سوچونه کول، چې بلاخره پرېکړه یې ټولو سره د ښکاره بغاوت وکړه.

د رواجونو له قیده د خلاصون په موخه ذیشان خپل ګرېوان تار - تار کړ.

نېغ راپاڅېد او په يواځې ځان يې خپلې کورنۍ کې مخالفو سره د مقابلې اراده وکړه.

له څو ترڅو ورځو – شپو وروسته چې لانجې، وهل - ډبول او خفگانونه تجربه شول، ذيشان اړ شو چې خپلې ترور ته ورشي او مرسته ترې وغواړي. هغه چې د ده په لاس جوړ شوی کوټ يې سلگۍ باندې سپارلی و.

ذيشان خپلې ترور ته د مرستې لاس وغځاوه، خو هغه هم له ټولو هغو وېره درلوده، چې د ذيشان د مينې پر وړاندې دېوال گرځېدلي.

د خپل وراره په غريو نيولي انداز پوهېده، چې له دغې بغاوته په شاه کېدونکی نه دی.

له همدې امله يې د ذيشان ژړغونې سرې سترگې پاکې او د سلگۍ دوی کور ته د ورتلو په اړه يې ډاډ ورکړ. د دې خبرې په اورېدو د ذيشان وران فکر ودان او له خپلې ترور يې هر څه ژر د سلگۍ دوی کور ته د ورتلو غوښتنه وکړه.

هغې له ډېرو فکرونو او سوچونو وروسته له ټولو خپلوانو پناه د خپلې يوې لور سره يوځای د سلگۍ دوی کور ته لاړه.

هلته يې کمرنگه ښه راغلاست وشو. پوهېدل چې څه لپاره راغلې.

يواځې د سلگۍ او د يوې خور يې ټنډې پراخې وې. هغه خور يې چې سلگۍ سره شوي بغاوت کې مله وه.

د کور نور غړو نه پناه د سلگۍ کشرې خور د ذيشان ترور ته هغه رښتيا بيان کړل، چې له امله يې د ده پر وړاندې د کورنۍ په کردار کې بدلون راغلی.

د ذيشان عمه په ډېر خفگان او ناهيلۍ بېرته کور ته ستنه شوه.

دغه ورځ ذيشان باندې په ډېرې بې کرارۍ تېر او د سبا کېدو سره سم يې ترور کره د تلو تکل وکړ. خبر نه وو چې بې مينې خلکو د ده د ژوبل زړه او نيمګړي ارمان د قتلولو په موخه څه ډول پرېکړه کړې؟

د ذيشان په پوښتلو يې د عمه سترګې له اوښکو ډکې شوې. وراره ته يې تکراري نصيحتونه شروع کړل:

ته دې نور دا زړه پوهه کړه، چې نور له دې بغاوتونو او محبتونو لاس په سر شي.

په دې ډول به نه سلګۍ ستا د مينې رنګ شي او نه به هم ته د هغې د بنګړو شرنګ شې.

ذيشان په غبرګون کې له څه ويلو وړاندې بېرته د ترور له خوا خاموش شو:

خپلې ګلاب غوندې ځوانۍ ته وګوره. تاسره دا لېونتوب نه ښايي!

مه په خپلې ځوانۍ او مه د هغې په پېغلتوب داغ لګوه!

ته مې که وراره يې، خو باور وکه له زويه راته ګران يې. ماته ستا دغه لارې هېڅ ښې نه ښکاري. هغه تا چې کومې نجلۍ باندې د سلګۍ ګمان کړی وو، هم هغوی د سلګۍ غوښتلو لپاره خبره نږدې کړې. يواځې په ولور سره جوړ نه دي راغلي. کنه نور يې ټوله کورنۍ رضا ده. کېدای شي همدې اوونۍ کې يې د بل چا په نوم کړي.

کشرې خور يې ويل چې پلار يې زړه کړی؛ ورکوبې يې ورته!

د ذيشان زړه د دې خبرو له امله بيخي سلګو نيولی وو، ترور يې همداسې خبرو ته نوره هم لمنه وکړه:

زما د سترګو توره وراره ګله!

په دې بغاوتونو ستا ژوند نه جوړېږي. له تا وړاندې ډېر نور همداسې تېر شوي. هغوی به دا بغاوت کړی وي کنه!

څه پر سر دې سنډا پښه ایښې؟

وخت سره سازش وکړه. نور چې خنګه کوي، هماسې ته هم خپل ژوند مخکې وړه.

که دوی څه بد ګڼل، ته هم په ښه سترګه مه ورته ګوره.

دا کړنې به درته په ډېره لوړه بیه پرېوځي.

ذیشان خپلې ترور ته له اوښکو ډکې سترګې واړولې:

زه به هېڅکله له دوی سره سازش ونه کړم. خلک خو هسې هم مَینو کې فرهاد، مومن خان، یوسف خان او ادم خان یادوي، یو دې په کې ذیشان خان هم وراضافه کړي.

ذیشان چې کله خپلې یواځنۍ هیلې (ترور) څخه هم د مرستې لاسونه ووینځل، ژوند ورته بیخي ترهېدلی او پیکه ښکاره شو. نور یې د صبر کاسه په ډکېدو څه چې ماتېدو ته نږدې وه. دې لپاره چې ښهٔ پوهـ شي، له ترور یې بل ځایه کې د سلګۍ د ورکولو په اړه ټول معلومات واخېستل. له یو څه ناستې او د خبرو له تمثیلي منلو وروسته له کوره په ګډو - وډو فکرونو ووت.

نور ترې د ستړي زړه له لاسه د راحت شپې پاتې وې.

ذیشان پښتون و او پښتانه خو چې خومره سوځېږي، هومره پخېږي.

دې کړاوونو به یې بغاوتي فکر لا نور ځواکمن کاوه.

نه یې غوښتل چې خپل سلامت ځان دود پالونکو ته ملامت کړي.

بل لور پر سلګۍ هم د بغاوت کړی راتنګه وه.

له شوخۍ او مستۍ لړې به یې ډېر کله د شته دود له امله ژوند نه زړه تور شو.

هغوی به ورته لېوني ښکارېدل، چې ویل به یې ژوند ښکلی دی.

اوس یې نو ټول دردونه تجربه کړي و.

هغه وایي کنه ((سوځېدلي به نور څه وسوځي؟))

نور نو خبره له ملنګتوب او سوال ځاریو وتلې وه. د سلګۍ دوی کورنۍ پرېکړه کړې وه، چې د دوشنبې په شپه به یې دستمال ورکوي.

ذیشان هم خبر شو.

ډېر فکرونه او چورتونه یې ووهل. لاره یې ونه مونده.

مازیګر مهال یې خپلې وړې خور ته یو پیغام ورکړ.

وړې ماشومې د ورور په لارښوونې ځان تر سلګۍ ورسو. د بغاوت جذبې اخیستې سلګۍ له ټولو پټ پناه د ذیشان وړه خور کلکه غېږ پورې ونیوله. تر ښکلولو وروسته یې چې خط ولید، وارخطاء شوه. اخوا - دېخوا یې وکتل. لیکلی کاغذ یې د پلو لاندې ژر پټ کړ. خونې ته ننوته. د لیکلو پر لوستلو یې پیل وکړ:

ای زما په خبر له دوده بغاوت کوونکې!

ته اوس زما نالیدلې مینه ګرځېدلې یې!

زه نه پوهېږم چې څنګه او کوم ډول درته خپل د زړه براس او درد بیان کړم!

چې هر څومره یې درته ووایم، هومره مې نه یواځې خپل درد زیاتیږي، بلکې ته به هم پرې کېدای شي دردمنه شې.

دا لیکل درته ما ځکه ولیږل، چې بل هېڅ اثره، درک او لاره راته نه وه پاتې.

زه غواړم چې ستا د دریځ په اړه پوهـ شم. ایا ستا کورنۍ چې څه کول غواړي، ته راضي یې؟

که راضي نه یې، نو چُپ ولې یې؟

زه له تا گیله مند نه یم او نه هم غواړم ستا زړه وچیږم، خو د دې خبرو په پوهېدو باندې مجبور یم. غواړم چې په روانو کړنو ستا له زړه خبر شم.

هیله ده په دې اړه ما له خپل دریځه خبر کړې.

د دې جملو په لوستلو د سلگۍ سترگې له اوښکو ډکې شوې.

قلم یې راواخیست او په رپېدلو گوتو یې په لومړي وار داسې کس ته لیکل کول، چې دې ته خپل خو کورنۍ ته یې پردی ښکارېده.

له دې وېرې چې څوک پرې شک ونه کړي، د لیکلو لپاره یې هېڅ هم نشو راخیستلای.

له ډېر سوچ او فکر وروسته یې د راغلي کاغذ پر شاه په درزېدلي زړه څو جملې ولیکلې:

گران ذیشان ته!

هغه ته چې تر اوسه ورسره هېڅ اړیکه نه لرم، خو له ټولو راته ډېر گران دی. زه پوهېږم چې ته د څومره ویاړ او قدر وړ یې، خو زموږ په ژوند د پسرلیو رانگ ډېر ستونزمن دی. ستومانتیاوې دې ماته ستا هنې ترور بیان کړې او کېدای شي ته هم زما له کړېدلي ژونده خبر شوی یې.

تا چې مې غوښتو پسې ترور لېږلې وه . . . !

زما نه خبرې هېرې شوې چې څه ولیکم؟ خو دلته دغه لاره چې تا او یا ما ټاکلې، تګ پرې سخت او فکر نه کوم که وشي.
زما له قهر، غوصې او ناکرارۍ دې خدای مهٔ خبروه؛ ځکه نه غواړم چې ته د خپل درد دپاسه زما خفګان هم وزغمې. زما له ځوانۍ هم د پېغلتوب شور او مستۍ واټن اخیستی.
نور به نو څه ووایم؟
په هغه دستمال ستا لیکل شوې کرښې اوس هم راسره دي. عمل پرې وکړه. زما حیا او خپلې هوښیارتیا ته په پام د خدای په هرې پرېکړې صبر لره.
بغاوتونو نور سر وخوړ. مور دوه او دا ټول کلی. چېرته سره کیږي؟
بیا ځل څوک ونه لېږې، چې دا وار دې هم خورکۍ د کور له څو پاټکونو په مشکله تېره شوه. هسې نه د کور د خلکو شک نور هم ډېر او د حیا په سپین څادر مې داغ شي.
پر خپلې دې شمېرې مې څو ورځې وړاندې فېسبوک آي ډي جوړه کړه. که څه دې ویل، بیا هلته پیغام پرېږده.
نور دې نو د ذیشان ستر واکمن مل وي!

ذیشان چې د تلوسې په اخري حد کې وو، د لیک له لیدلو سره سم یې وار له واره پر شمېرې سترګې ښخې کړې.
د سلګۍ په رپېدلو ګوتو د کرښو له لوستلو وروسته یې چابک خپل فېسبوک خلاص او د سلګۍ شمېره یې لټون ځای کې ولیکله. د سلګۍ نوم نه وو. د ملالې په نوم یوه پاڼه خلاصه شوه. ګرافیک شوی یو غمجن انځور په کې بیخي تازه پروفایل شوی وو.
سمدستي ورته د پیغام په لیکلو بوخت شو:

سلامونه!
هیله ده چې زه چاته لیکل کول غواړم، هماغه اوسې.
زه به له خپلې پیل شوې غمجنې زندګۍ نه درته هېڅ نه وایم، خو که ستا خوښه وي، هېڅ نه پرېږدم چې ستا د خوښې پرته دې پرتا باندې کومه رشته ومنل شي.
نه پرېږدم چې بغاوت مو شهید شي. زه به د کلي ځوانانو او ته به یې پیغلو ته په کومه سترګه ګورې؟
نو دا کار هم ستا او هم د ځان لپاره کوم، خو ډېر بیا د ځان لپاره.
ډېر وخت تېر شو. د لیکل شوي پیغام ځواب نه ښکارېده.
صبر یې نه کېده، شمېره ته یې زنګ ووهه، خو دا چې د سلګۍ موبایل ته د نابلده نمبر زنګ بند شوی و، بې پایلې به یې اړیکه پرې شوه.
ژر یې د پیغام لېږلو فکر وکړ. دلته یې هم ورته څو ټکي ورولېږل:
سلام، که سلګۍ یې نو هیله کوم آن شه!
سلګۍ موبایل کې د پیغام په لیدو زړه باندې یوه وېره خپره شوه، لکه ذیشان چې ورته مخامخ ولاړ وي.
بانه یې له وړاندې نمجن وو. سترګو یې له ډېرې ژړا سم درد کاوه.
د شته دود له وېرې یې د موبایل له وېستلو وړاندې ځان پسې دروازه بنده کړه.
سلګۍ په موبایل او انټرنیټ باندې ډېره بلده نه وه، خو پیغام یې پیدا او د ذیشان په انځور یې سترګې ولګېدې.
د موبایل ښیښه یې مخته نږدې کړه؛ سم لکه ډک ټوپک یې زړه باندې ویشتل وشول.

کله یې لېکلو او کله یې د ذیشان انځور ته کتل. دومره تر تاثیر لاندې راغله، چې مخ یې تک سور شو. انګکي یې له سوروالي سم خلېدل.

څو وار یې لیکل شوي توري ولوستل او همداسې به د دې جملو په اړه فکر کې لاړه.

د ذیشان له لوري څو - څو وار پیغام کولو اړ کړ، چې یو څه ورته ولیکي:

علیکم سلام ذیشان!

ګوره، هسې نه زموږ بغاوت اوس لکه تور څادر یو بد رنګ خپل کړي. هرڅه مو هماسې پټ په زړه بنه دي. درته ځارۍ کومه. نور څه شرم جوړ نه کړې، کنه د دې کلي دود خو تاته بنه مالوم دی. باور ولره چې له شته ژونده به هم بې برخې شو. زه خیر دی، خو که ستا ژوندڅوک لنډ کړي، نو بیا؟

سلګۍ هڅه کوله ذیشان د څه کولو وړاندې ووېروي.

وګوره !

ته څومره ښایسته ځواني لرې!

دا هر څه دې په تا درپېرزو وي!

د لېږلو سره سم یې په لوستلو د ذیشان زړه کنډو - کنډو شو.

همدومره یې ورته ولیکل، چې څه وکړم؟

دغه بد دود ته تسلیم شم؟

یا تا له زړهٔ څخه وباسم، که زړه له خپله ځانه؟

ته دا ناهیلې پرېږده؛ وبه ګورې چې له دې تور څادره درته غلاف
جوړ کړم، خو که ته دا ووایې چې ستا پرېکړه د کېدونکې کړنې
برعکس ده.
سلګۍ له اورېده سوړ اسویلي وروسته غوښتل ډېر څه ولیکي، خو
بېرته یې فکر وکړ، چې کېدای شي ذیشان د ده په دې خبره ګوار
شي او غوغا جوړه نه کړي.
په ژړغوني حالت یې خپلو شونډو ته د غاښونو په منځ کې زور ورکړ
او ورته ویې لیکل، چې:
"هو! زما پرېکړه همدا ده چې کورنۍ مې غواړي."
د ذیشان زړه لکه څووم چټ نه چې لاندې ولوېږي، یو درز وکړ.
خو فکر یې ژر سر خلاص او بېرته یې ورته ولیکل:
ته دا خبرې له زړه کوې!؟
سلګۍ بې واکه ټکان وخوړ او بې اختیاره یې ولیکل:
نه!
هېڅکله نه!
دې حالت کې د دواړو زړونو بل ډول درزا کوله. مخونه تک سره او
بدنونه سم رپېدېدل.
په غیر اختیاري ډول د سلګۍ د زړه خبرو ذیشان د مینې په لمبو
کې سم راګیر کړ.
نه یې غوښتل چې سلګۍ د شوې خبرې بېرته ردېدلو لپاره څه
ووایي، ژر یې ورولیکل:
بس ته راسره اوسه او دعا کوه، زه به دا ټول په دغه ناروا کار
پښېمانه کړم!

د کلي له خوا کېدونکې جفا ته ذيشان نور د ټينګې نه وو. له خپلې خونې په ژړغونو سترګو ووت.

سلګۍ هم له ډېرې ژړا نه د ذيشان له خوا هغه ورکړل شوی دسمال لوند کړی وو.

په دغو بغاوت کوونکو ټول خلک شکمن شوي وو. مازيګر مهال ذيشان له خپلې موره غوښتنه وکړه، چې د سلګۍ غوښتلو لپاره هغوی کره لاړه شي، خو مور يې زړه ونه کړ.

ذيشان د خپلې هغې ترور هم لاره څارله، چې ده ورته خپل کور ته د راتګ ويلي وو.

هغه شپه راغلې وه چې د سلګۍ کورنۍ بل ځای کې د ده د ژوند ترلو پرېکړه کوي.

ذيشان په دې اړه خپلې کورنۍ ته هېڅ نه وايي او غواړي، چې هر څه ژر له هغوی وړاندې خپله کورنۍ د سلګۍ دوی کور ته ورولېږي.

رښتيا هم د بغاوت ځينې کړنې په لېونتوب کېږي. دا چې خوب، راحت او خوراک کم نه کړې، په دې لېونتوب نه پوهېږې.

خو بيا هم په وجود او ساه کې ژوند تړونکو په ډېر احتياط له وختونو د دنيا شرمونه جلا کول.

دود ته يې اجازه نه ورکوله، چې ارمانونه يې قتل او جنازې يې د ..وی له زړونو وباسي.

ذيشان ترور راورسېده او له نورې کورنۍ پټ پناه يې د ذيشان مور ته ..ړ کړه، چې ورسره يو ځای سلګۍ دوی کره لاړه شي. ذيشان

پرې ډېر گران و. دا خطر يې هم د ذيشان د خوښى لپاره پر ځان منلى و.

کلى په دود پاللو کې ډېر جدي و. رښتيا هم کله چې جديت اخري حد ته ورسيږي، د خلکو سترگې سپينيږي. بيا ورته جديت د ژوند يوه برخه ښکاري. ځکه نو د جديتونو باوجود که ډار موجود هم وي، څه يې چې زړه غواړي، کوي يې.

دواړو مېږمنو په ډار – ډار د سلگۍ دوى کور ته د تلو اراده کړې وه.

د هر قدم له کړپار سره يې د زړونو گړزهار لا پسې زياتېده؛ لکه په غلا چې دوى ته ژوند جوړوي.

سلگۍ او ذيشان دواړه په خپلو کورونو کې رب ته په سجده او د شوي بغاوت د برياليتوب دعاوې کوي. هغه وايي کنه، د تقدير ليکه نه بدليږي، مگر په دعاوو.

سلگۍ د ذيشان پيغام وکوت چې خلکك مې درولېږل، ژر يې په ځان او کور لړې گوتې ووهلې. سلگۍ د ذيشان مور او ترور ته، خو کورنۍ يې د نورو هغو لارې خارلې، چې دوى ورسره په همدې شپه د سلگۍ د ورکړې ژمنه کړې وه.

سلگۍ باندې د انتظار له امله هېڅ وخت نه تېرېده، دروازې ته په کتو يې سترگې سمې سپينې شوې.

له يو څه مودې وروسته يې د کور دروازه وټکېده. سلگۍ زړه په دربا شو، خو نږدې ورنه رغله.

له لرې يې د ذيشان مور او ترور وليدل.

د مينې له امله په زړه رنځوره لا نوره د دغې کار پايلو ته غمجنه شوه؛ ځکه نن يې کور کې د ده د غوښتلو لپاره رقيب او يار په يوځايي

توګه جرګه دي. لکه نارنج ېې رنګ تک زېړ اوښتی وو. زړه نا زړه یې ورته سترې مشي ورکړه. د سلګی غوښتنې په خبره یې مور ورته په مسکا
وویل:
د دې خبره خو نوره خلاصه ده. سلګی ورکړې وبوله؛ څکه اوس د ماښام په کېدو سره به یې دسمال وړلو پسې راشي.
د دې خبرې په اورېدو د ذیشان مور او ترور فکرونو بل ډول سوچونه شروع کړل، خو چې څومره به یې دغه موضوع څېړله، هومره به د دغو دواړو ترمنځ د یوځایتوب امکانات کمېدل.
ترور یې د سلګی مېرنۍ مور له نورو جلا کړه، څو د خپلوی نښې (دسمال) ترلاسه کولو لپاره ورته سپینه کیسه وکړي او په ښکاره ټکو یې د بغاوتونو له روانو جریانونو سر خلاص کړي. د دې کیسو په کولو یو دم د ښځې سترګې بدلې شوې.
په رډو سترګو یې بد - بد د ذیشان ترور ته وکتل. له لږ سکوت وروسته یې په حیا او عزت کې ورته د تلو په اړه وویل، خو د ذیشان عمه د خپل وراره فشارونو او ټینګار نه پرېښووده، چې بېنوا د سلګی دوی له کوره ووځي.
د دوی ټینګار او د سلګی د کورنۍ انکار خبره تر ماښامه ورسوله، خو بیا هم د سلګی مېرنۍ مور هماغه ډول انکاري او رټونکې خبرې کولې. د ماښام لمانځه کولو وروسته یې خدای ته خپله بې وسي او د خپل وراره سرزوري مخته کړه. ډېرې دعاوې یې وکړې. باید نور تللي وای؛ څکه ناوخته شوې وه. د تک تکل سره سم یې له دروازې هغه خلک په سترګو ولګېدل، چې د سلګی دسمال وړلو پسې راغلي وو.

عمه یې ډېره نا ارامه شوه. له تولو پنا یې د زنګ په کولو خپل وراره د دوی له راتګه خبر کړ.

د ذیشان په روح او جسم اور په لګېدو شو. په ډېر ناکوار حالت کې یې ترور ته همالته د پاتې کېدا سپارښتنه وکړه.

ټینګار یې وکړ، چې د وراره ژوند یې همدې دسمال پورې تړلی دی. بار - بار یې ورته همدا ویل، چې که د ذیشان ژوند غواړې، نو دې کار ته اجازه ورنه کړې او نه هم ترې راووځئ. ترور یې منله خو مور یې د پټ راتلو له امله سخته اندېښنه کې وه.

د ذیشان پښو لاندې اور بل شو، ډېر یې اخوا دېخوا وکتل خو د کومې چارې په ترسره کولو ونه توانېد.

زړه یې بیا - بیا ورته د څه کولو او د دغه کار منع کولو سپارښتنه کوله، خو په فکر کې یې هېڅ داسې څه نه راتلل. د ترور بار - بار زنګ وهلو لا نور تر فشار لاندې راوست.

سخت مایوسه او خواشینی شو.

د بغاوت له ناکامۍ وروسته یې د خلکو خبرې او خنداوې له فکره تېرې کړې. بیا به ذیشان دې خلکو ته څه د مبارزې او بغاوت خبرې وکړي.

کوم غېرت به ورته خپل مخته کوي؟

همدا چې دوه بغاوت کوونکي بېرته دودونو ته تسلیم شول؟

نه - نه!

داسې نه شي کېدای!

له ژونده یې کرکه راغله. منډه یې کړه او د پلار له بالښ لاندې یې تمانچه واخېسته. غوښتل یې چې همدلته ځان وژنه وکړي، خو د

دې لپاره چې د خان ترځنګ دغه شته دود ته هم اور واچوي، تمانچې کې یې مرمۍ تېره او د خان وژنې په نیت یې د سلګۍ دوی کور لور ته چابک قدم وهل پیل کړل. په تېزۍ داسې ځوړن ډوله روان وو؛ لکه څوک یې چې مرګ لپاره په زوره راکاږي.

پر لار یې زړه کې د سلګۍ مختته خپله وژنه، جنازه او مقبره ټوله تصور کړه.

ذیشان انګېرلې وه چې د سوال په اوبو ژرندې نه چلیږي، نو د دیدن لباسي خندا پرځای یې د بېلتون رښتینې ژړا څو چنده غوره ګڼله.

لکه د لېونو پر لاره ځان سره غږېده. کله خو به یې له ډېرې غصې سم غاښونه وچیچل.

د سلګۍ د حالت په اړه خو یې بیخي فکر نشو کولای. د زړه ازار به یې په بې کرارۍ سره نور هم زور واخېست.

پرته د بغاوت له بریالي کېدا یې د ژوند تېرولو ټول مفهوم هېر کړی وو.

ذیشان له خپلو کوڅو ووت. د سلګۍ دوی کوڅې ته مخامخ شو. کوڅه کې چوپه چوپتیا وه، خو د ذیشان زړه کې د لوی شور له امله اټکل داسې وو، چې څو شېبې وروسته به یوه لویه غوغا جوړیږي.

د سلګۍ دوی دروازې ته ورورسېد. تمانچه کې یې تېره شوې مرمۍ یو وار بیا وکتله او ځان یې بیخي بلې دنیا ته تلو لپاره چمتو کړ.

ده اوس په خپلو ټولو ارمانونو د خاورو اړولو پرېکړه کړې وه، ځکه خو د شوي بغاوت له امله ترې ټول ژوند نور په پاتې کېدو وو. نور یې بغاوت کې د سبا نښې نه تر سترګو کېدې.

په زړه کې يې لرونکو ټولو ارمانونو سلګۍ وهلې. هره لحظه به يې د خولې ترخې زهرجنې لاړې د زړه په زور تېرې کړې.

دروازه يې وټکوله. د سلګۍ ورور راووت. له روغبړ وروسته يې ورته حجرې ته د تګ او ناستې په اړه وويل، خو ذيشان ترې د خپلې مور او ترور پوښتنه وکړه.

د سلګۍ ورور په خندا کې پرې يوه ټوکه وکړه، چې څه څوک خو يې تښتوي نه، در به شي!

ذيشان په ډک زړه د سلګۍ ورور ته وروکتل. هېڅ يې ورته نشو کتلای.

د ذيشان له الوتي رنګه يې وېره وشوه. خو ذيشان بېرته خپل څټ باندې لاس تېر او بل لور ته يې وکتل. تر لږ وخت وروسته چې دواړو يو څه چوپتيا تېره کړه. د سلګۍ ورور له ذيشانه وپوښتل:

خېريت خو دی؟

خنګه بې چورته ولاړ يې، يا حجرې ته راځه او يا بل څه وکړه!

ذيشان زړه کې وغوړمبېد:

صبر اوس به بل څه وګورې، چې زه څنګه بل - بل څه کوم!؟

خو دا چې په خوله يې څه ونه ويل، د سلګۍ ورور بيا ځل ورته خبره وکړه:

يه وروره، موږ حجره کې نور مېلمانه لرو، يا راځه حجرې ته او يا..

!.

ذيشان په ترخو برګو سترګو وروکتل:

څوک دي مېلمانه مو؟

- مېلمانه دي نو، اوس ضرور ده چې تاته بې دروپېژنم!
د ذيشان زغم نور ختم و.
تر پخوا لا ډېر ترخه يې د سلګۍ ورور ته وکتل او د زړه خبرې يې په خولې باندې لبرېز شوې:
سخت ظالمان ياست!
لا تر اوسه مو د ژوند منزل ونه پېژند، هېڅ خبر نه ياست چې دا خنګه لاره مو د خوړکی زندګی ته ټاکلې؟
تاسو له خپلې خور پوښتلي، چې د ټول ژوند پرېکړه يې کوئ؟
ته پوهېږې؟
تاسې اوس د خپلې خور د ارمانونو او پر هغې د مين کس قاتلان جوړېږئ!
د دې خبرو په اورېدو د سلګۍ ورور له ډېرې غوصې په ذيشان باندې د کلکې خپېړې ګوزار وکړ. ترې وروسته سم دستي د وژنې ګواښ هم مل وو.
ذيشان پرته له دې چې کوم غبرګون وښايي، له خپلې بدې يې دانه تېره تمانچه راوويسته او ورته مخاطب شو:
اى ظالمه!
اړتيا نشته چې ظالمانه تور لاسونه دې زما په روح او جسد ولګوې؛ زه خپله راغلی يم چې ژوند ته مې ستا د خور د سترګو پر وړاندې د پای ټکی کېږدم.
د ذيشان په غمځپلې خبرې دغه ډول غصې بېخي د سړي زړه کې ډار راوسته.

د سلګۍ وروړ د دې خبرو په اورېدو زړه کې جتکه وخوړه. لومړیو کې لږ څه بې پروا خو وروسته یې چې د ذیشان په خبرو باندې باور راغی، په زړه یې وېره ننوته. د لاس په اچولو یې هڅه وکړه چې تمانچه ترې ترلاسه کړي، خو کش - مکش او شور جوړ شو. دا چې ذیشان له وړاندې مرمۍ تېره کړې وه. په دې کشمکشونو کې ترې په ماشې ګوته راغله. د درز په کېدو سره ټولو دروازې ته منډه کړه.
د ذیشان د مور، ترور او د سلګۍ په زړه کې بل ډول ګړزهار جوړ شو.
سلګۍ په لومړي وار ذیشان په مخامخ څېرې سترګې ولګېدې.
په ژورو یې ورته وکتل. د مینې سرو اورونو یې په زړه باندې سم شور ګډ کړ.
ذیشان لکه د لېونو داسې ښکارېده. پر خپل سر یې تمانچه ایښې او همدا چغې وهي:
((سلګۍ چېرته ده؟ غواړم د هغه مخکې ځان وولم.))
سلګۍ یې هم د نورو کسانو ترڅنګ مخته ولاړه ده، خو دا چې ذیشان یې نه پېژني، بیا - بیا همدا غږونه کوي.
په دې چغو اول د سلګۍ او بیا یې د مور او ترور سترګو کې اوښکې راغلې.
د هر یو کس په نږدې کېدو سره ذیشان ګواښ کاوه، چې که څوک نږدې شي، دی به د ډز په کولو ځان بلې دنیا ته ولېږي.
د دې ننداره په دوام به یې ځینې نورې خبرې هم خولې ته راغلې:
تاسې ټوکه ګڼله؟
دسې اسانه ده چې د بل پر تاکنې لوبې وکړئ؟

له ټولو څه کول پاتې وو. ذیشان یواځې دې ته په تمه وو، چې د خپلې ناليدلې مينې له لومړۍ او وروستۍ ننداري وروسته له ژوند سره خدای پاماني وکړي.

ترور يې د څه کولو په فکر کې شوه، څو خپل وراره له دغې کړنې وژغوري.

په کراره - کراره ور نږدې شوه. خپل وراره ته يې ورو غوندې وويل: د لېونې بچيه تمانچه له سره لرې پورته ونيسه. که ته خپل ژوند وبایلې، سلګۍ به څه کوي؟ هغې ته به څه په لاس ورشي؟

يواځې غم او مرګوني درد؛ هغه درد چې په ژوندوني به يې ووژني.

بغاوت به دې څه شي؟

بیا به بل څوک د ناروا وو پروړاندې بغاوت ته زړهٔ ښهٔ کړي؟

موږ تيار همدلته يؤ. سلګۍ د ځان په نوم کړه. هوايي ډزې وکړه.

بیا به د دوی له وسې څه وشي؟

له لږ سوچ وروسته د ذيشان زړه په دې خبرې اوبه وڅکلې. يو دم يې د فکر زاويه بدله شوه. د تمانچې شپېلۍ يې له خپل سره پورته لور ته ونيوله او شته ټولې مرمۍ يې هوا ته ولېږلې.

سم ګړزار شو. د سلګۍ يوه ورور بل ورور ته د ذيشان د ويشتلو وويل، چې بايد ژوندی ترې لاړ نشي؛ ځکه دلته دود سره - سره د حيا او عزت مسله هم رامخکې شوه.

سلګۍ د غږ په اورېدو له وروره وړاندې منډه کړه او ټوپک يې د دوی له سترګو پناه کړ.

ورور یې چې د ټوپک په پیدا کولو کې پاتې راغی، له اشپزخانې یې تېره چاړه ترلاسه او په منډه یې ذیشان په خېټه څو پرلپسې چړې ووهه.

وینې وخوټېدې. چغې شوې. د چړو په خوړلو ذیشان خپل روغ صحت له لاسه ورکړ، له لږ ساعت وروسته بې هوښه شو.

له کلي راغلو خلکو ژر تر روغتونه یوړ. ډېره وینه ترې تللې وه. د کورنۍ نور غړي (پلار، وروڼه او ترونه) یې هم تر روغتونه رسېدلي وو. لومړیو کې یې روغتیاپالانو حالت ښه نه انګېره، خو وروسته یې بیا کورنۍ ته د ژوندي پاتې کېدا ډاډ ورکړل شو. د ذیشان پلار له یوې خوا خپلې مېرمنې او خور ته په زړه کې وینې جوشولې او له بلې خوا د زوی دغې کارنامې(!) ته د غوصې او خفګان په وروستي حد کې وو. په زوی باندې خو د چړو ګوزارونو بدل اخېستو پوښتنه مه کوه، چې څه ډول یې فکر ورته محاصره کړی وو.

ذیشان ته د مینې په سور اور له سوځېدو نه دا زخمونه واړهٔ ښکارېدل.

بل لور سلګۍ چې د ذیشان په ګېډه د چړو بې رحمه ګوزارونه لیدلي وو، هېڅ یې سترګې نه وچېدې. موبایل کې ډېر کړي پیغامونه یې د ذیشان له لوري هماسې بې ځوابه پاتي وو.

هر ملګری به یې چې راغی، له نورو پناه به یې په غوږ کې ترې د سلګۍ د حالت او کورنۍ پوښتنه کوله.

له نورو نږدې یو ملګری یې چې د سلګۍ دوی ګاونډی وو، له ډېرو خبرو سره ذیشان لیدو ته راغی، خو د نورو کسانو شتون له امله یې هېڅ نه شو کولای چې هغه له دغو نادرو خبر کړي.

د ډاکټرانو د رانګک وخت شو. باید له یو کس پاتې کېدا پرته ټول بهر وتلې وای. ذیشان د همدې ملګري په پاتې کېدا ټینګار وکړ.

ټول ووتل؛ د ذیشان ملګری عمران د رازونو په ویلو ذیشان ته ګویا شو:

ذیشانه لېونیه!

خبر یې چې څه نخرې دې کړي؟

لومړی خو دې موبایل وګوره، چې سلګۍ درته لکه چې څه پیغامونه درلېږلي دي!

زما خور ته یې سپارښتنه کړې وه، چې ستا په لیدو درته د پیغامونو په اړه ووایم.

هغه دسمال پسې راغلي خلک همداسې بېنوا بېرته تللي. یو مشر کاکا د سلګۍ دوی کورنۍ ته سخت غوصه وو، ویل دعوه ګیره او بل سره جوړه نجلۍ پر مور تاوانوئ؟

بې غېرته خلک وو، لاړل پښې یې سپکې کړې.

ذیشان په دې خبرو لا ډېر خوښ شو، خو د فکر سترګو یې د سلګۍ پیغامونو پسې لټون کاوه.

موبایل یې راواخېست ګوري چې بې شمېره پیغامونه ورته راغلي دي.

ذیشان له دردونو، خفګانونو او دعاګانو ډک پیغامونه ولوستل، خو وروستیو کې یې د خوښۍ داسې پیغام ولوست چې په ژوبل ځان یې تېز غږ باندې خندا وکړه. په ګېډه یې د فشار له امله د درد یوه څپه تېره شوه. عمران پرې په دومره تېزې چغې او خندا لړ غوصه

شو، خو د ذیشان دغه لږ درد هغه لویه خوښي نه شوه نیمګړې کولی.

د عمران غوصې ته د ذیشان هیڅ پام نه وو، د خولې په راښکل شوې خندا یې ملګري ته په کرار غږ وویل:

یاره عمرانه خبر یې چې وربندار دې څه کارنامه کړې؟ زما له ډزو او ژوبلېدو وروسته یې ټولو نه پناه د خپل کور ټوله ګوړه په یوه دستمال کې تړلې او زما مور ته یې ورکړې ده. ترور د نر لور مې بیا په هماغه حالت کې له موره دسمال اخیستی او ټولو راټول شویو خلکو ته یې ښودلی، چې مور د سلګۍ دسمال ذیشان ته یووړ.

اوس مې دا دردونه ټول بې اغیزې دي. ما چې څه وغوښتل خدای راته هماسې وکړل.

ښه پلمه وه چې ذیشان سلګۍ ته زنګ وهلی وی، خو دلته یې د ملګري له سترګو حیا راتله. عمران پرې پوه او ذیشان یې ځانته پرېښود.

د ذیشان زړه وغوښتل چې له همدې وخته په ګټې اخېستنې سلګۍ ته زنګ ووهي.

سلګۍ په یو عالم تشویشونو کې ناسته وه، چې موبایل ته د ذیشان زنګ یې ټول حالت یو دم بدل کړ.

بې واکه ترې راغلې اړیکه وصل شوه.

په لږو ثانیو کې یې د ذیشان غږ اورېدو په پلمه څو وار سلام واچوو. ذیشان د ځان لپاره د سلګۍ په وارخطایی دومره خوښ شو، چې ټول دردونه او تکلیفونه یې هېر شول.

د سلګۍ وارخطايي لا پسې ډېرېده چې ذيشان پرې په بې صبرۍ غږ وکړ.

ارام شه خوږې، زه بيخي ښهٔ يم!

سلګۍ بيا ځل په ژړغوني غږ ترې د روغتيا پوښتنه وکړه:

ستا هغه زخمونه اوس څنګه دي؟

د بيا ځل ډاډ په ورکولو سلګۍ خپله وارخطايي په يوې ژورې ساه ختمه کړه.

که څه هم د دواړو بدنونه لکه سره لرګې تبه رېږدېدل، خو حالت داسې وو چې بايد يو بل ته يې ډاډ ورکړی وی.

دواړه لږ خاموش شول. ذيشان په خندا ورته خبره وکړه:

ای! روغتون ته ستاسو د کور ګوړه راغلې!

چکلېټ يا نور خواږه لکه چې نه وو!؟

سلګۍ د ذيشان خوښۍ لپاره لږ ناز وکړ:

ښه مې وکړل کنه، تا غوندې مې خپل سر ته ټوپک نيولی وی؟

دواړه مسکي شول. په کرار غږ ورته ذيشان مبارکي ورکړه، خو د سلګۍ په زړه سخته وېره خوره وه.

له يو څه سوچ وروسته ورته سلګۍ ځواب ورکړ:

ما خپل ځان د ستا په نوم کړ. نور تشويش ونه کړې. زما له زړه هم وېرې نوره کډه کړې. ګورو به چې څه کيږي؟

بهر د ذيشان پلار لپاره د پوښتنې په پلمه د مشرانو يوه ډله راغلې وه، چې ډېره موخه يې د جرګې او روغې - جوړې کول وو.

د ذيشان له پلاره هم لار ورکه وه، چې څه وکړي؟

مشرانو ترې د واک غوښتنه کوله. دا چې د ده فکر کې دومره ښه څه نه راتلل. زړهٔ نا زړهٔ یې مشرانو ته د پرېکړې واک ورکړ. د ده له واک ترلاسه کولو وروسته مشرانو د سلگۍ له پلاره هم ورته هیله وکړه.

هغه هم د ذیشان د پلار په خبر د څو لارو په منځ کې گیر پاتې وو. یو لور ته یې پرته له خوښې د لور دستمال، بل خوا د زوی له لوري یې د ذیشان په چړو وهنه او د کلي شرمونه، دا هغه څه وو چې د سلگۍ پلار یې بیخي له سوچونو سره غاړه - غړې کړې وو.

څو ورځې - شپې تېرې شوې. د دواړو لورو زړونو کې یو بل ته وینې جوشېدلې، خو د سپین ږیرو مشرانو له لوري د درنې ناغې کېښودل هغه څه وو، چې له امله یې دوی پر یو بل کار نه لاره.

د جمعې ورځ وه. سپین ږیرو د ملک په دېره کې د پرېکړې لپاره دواړه لوري راوغوښتل.

د داسې جنجالي معاملې پرېکړه سم لکه الجبر کې د درې مجهوله معادلو حل وو، خو مشرانو چې عمر او ژوند یې د ستونزو په حل او جرگو - مرکو کې تېر شوی وو، یوې پایلې ته په رسېدلو باندې توانېدلي وو.

دا چې د سلگۍ له لوري راوړل شوي دسمال کې ورکړل شوې گوړه د سلگۍ غوښتونکو لیدلې وه، نو د نجلۍ له کولو یې انکار کړی وو. د پښتنو شته دود له امله چې دغه ډول نجلۍ کولو ته بیا څوک په اسانه زړه نه ښه کوي. له همدې امله پرېکړه داسې شوې وه، چې سلگۍ باید د ذیشان په نوم شي، خو د کېدونکو ډزو له امله به یې کورنۍ سلگۍ دوی ته یو بد او یا یې قیمت ورکوي.

د ذیشان مشر ورور چې یو څه ګرځېدلی او روښان فکره و، د بدو په
ورکړه کې یې د نجلۍ په غوښتلو کلک غبرګون وښود او د پیسو مسله
یې جرګه کې په ټولو ومنله.
دې کلي کې د بد ورکولو قیمت اته لکه روپۍ ټاکل شوې وې.
څوک خوښ او څوک ناخوښ، خو دا چې جرګې له دواړو لورو
واک اخیستی وو، پرېکړه یې وکړه.
سلګۍ د ذیشان په نوم کېدو باندې دواړه کورنۍ په دې بې خوندې
خپلوۍ له اندازې ډېرې خواشینې وې.
د سلګۍ پلار یې خپلو زامنو ته ویل:
جرګې ورته په نوم کړه، خو په خدای قسم که په اسانه مې لور ته د
ناوې په سترګه وګوري!
ذیشان سلګۍ ترلاسه کړه، خو د سلګۍ کورنۍ له لوري جوړېدونکو
پلانونو له امله انګېرنه داسې وه، چې کېدای شي دا مینه ذیشان او
سلګۍ دواړو ته بلا وګرځي.
د همدې ورکړې پرمهال د دې لپاره چې بیا ځل د دوی ترمنځ
ستونزې ونه زېږي، کوژده او نکاح دواړه وتړل شول.
د وخت تېرېدو سره بیا هم د دغو کورنیو خپلوي هماسې پیکه روانه
وه. ذیشان په خپل او سلګۍ په خپل کور کې بې قدره زندګي کوله.
د دوی هر ناری او اختری به له یو بله پیکه وو.
که څه هم د دوی روغه شوې وه او په ښکاره پخلا شوي وو، خو د
مشرانو ترمنځ راشه - درشه بیخي کمرنګه وه.
وخت وروسته لوی اختر راغی.

ذیشان د خپلو خویندو، مور او ترور په تینګار ځان چمتو کړ، څو د سلګۍ دوی کره یو وار لاړ او زړونو کې شته خیرې پاکې شي.
تېرې بدۍ د هېچا له زړه نه وې وتلې، خو د دې لپاره چې تېر هېر شي، دغې خپلوۍ کې یې د خوښۍ رامنځته کېدو په موخه حرکت وکړ. ذیشان یې عمه او مور د دوه نورو خویندو سره مخکې کړ. تږول روان وو.
د ورتګ سره سم ذیشان حجره کې کېنول شو. د خسرګنۍ هېڅوک یې خواته رانه غلل. راتلل خو لا څه چې د دې د ورتګ له خبر سره سړي له خپلو کورونو هم بهر لرې لاړل. ځانته ناست یې د خپل راتلونکي په اړه فکرونه کول.
د سلګۍ دوی حجرې دوه دروازې درلودې. یوه یې له بهر خوا او بله هم د کور له خوا وه. ډېر وخت واوښت. ذیشان د خپل خسر کره چای خو لا څه چې کوم غړپ اوبه هم ونه څښلې. عمه یې سلګۍ ته د ذیشان د راتګ خبر ورکړه. سلګۍ سره که د شرمېدو مسله مله وه، خو د هغه شرم نه ډېره وېرېده، چې په نوم شوی د ژوند ملګری یې وچې شونډې او خفه بېرته کور ته لاړ شي.
دې بې خبرۍ کې د دواړو خیر وو. سلګۍ په ضدي بڼه پرته له دې چې بل چاته د چای وروړلو سپارښتنه وکړي، خپله یې ښکلې چای جوړ او د ذیشان پر لور یې د ورتګ تکل وکړ. د کور له خوا د حجرې دروازه په کراره ټک - ټک شوه. ذیشان بالښ ته له وهل شوې ډډې ژر رانیغ او ځان یې منظم کړ، خو خبر نه وو چې دغه د چای پیالې د چا په لاسونو کې کړنګیږي؟

هاخوا_دېخوا يې وکتل، هېڅوک نهٔ ښکارېدل. کافره او مسافره خونه خو بيخي لکه ناوې د خاموشۍ حالت کې وه. دومره خاموشه چې د خپلو ښو کشار هم اورېدل کېده. د وَرهٔ خلاصېدو سره سم يوهٔ نازک غږ په سلام لکه رباب د خونې چوپتيا وتنګوله.

ذيشان د اوږدې ساه په اخېستلو ورو ور وکتل.

ګوري چې ګلابي مکسي کميس کې پوښل شوې دنګه پېغله د معصوميت او محروميت په انتها کې ترهېدلې درېدلې.

ځنګېدلې زلفې يې پهٔ مخ باندې تالونه خوري. د زړهٔ پهٔ خزان وهلي چمن يې ببرته ښکلی ګلشن جوړ دی.

سلګۍ د ذيشان پهٔ ليدو او ځيرکتيا کې ژوره، ژوره او لا نوره ژوره شوه. يو دم وارخطا لکه اوتره کوتره ورپېده. وزرې يې مړاوې کړې. زړګي يې د لالي په شتون د خوښۍ ټوپونه وهل، سمه زلزله پرې راغلې وه.

ذيشان ته په کتلو يې سترګو برېښ وکړ. ژر يې خپلې ګوتې مخته ونيولې. ځان سره د لړې بوږنېدا وروسته يې د خوښۍ ژړغونې سلګۍ خونه په انګازو کړه.

کوژدن يې په بېره لهٔ خپله ځايهٔ پورته او تر هغې ورغی.

پهٔ نږدې کېدو يې عجيب کېفيت محسوس کړ؛ لکه د عطرو يې سپېڅلي پېغلتوب خوشبويي کولې.

چای يې پر مېز کېښود. مړوند يې خپلو پنجو کې ورته ونيو او د ارامۍ مسکا پهٔ کولو يې خولهٔ خبرې ته جوړه کړه:

چې شه سلګۍ ولې ؟

ته صبر دا د بهر لخوا دروازه بنده کړم، کنه اوس به دې ټوله دنیا وويني!

ذيشان ژر دروازه بنده او بېرته خپلې سلګۍ ته مخامخ شو. په دواړو خاموشۍ خپله لوښه خوړه کړه. د ذيشان سترګې تر ډېره سلګۍ ته همداسې نيولې پاتې شوې.

د لږې هڅې وروسته سلګۍ په خبرو برياله شوه:

ماته اجازه راکړه چې وژاړم، وژاړم او بنهٔ ډېر وژاړم.

هېڅ د دغو پاکو او مهذبو اوښکو تويدلو ته چا نهٔ يم پرېښې. ماته بيخي د نه منلو بريښي، چې د زرګونو خندونو، انکارونو او ستونزو ګاللو وروسته رب زما او ستا بغاوت برياله او د ژوند بندونه يې وتړل.

ذيشان چې په لومړي وار يې داسې حالت تجربه کاوه، د حېرانۍ په وروستي حد کې وو، خو بيا هم مُسکی شو:

لېونۍ!

دا بندونه لهٔ وړاندې تړل کيږي، خو ځينې خلک نفرتونه او قلقونه يواځې د دې لپاره پر لاره اچوي، خو د رب پر کړې پرېکړې شوکارې ولګوي، خو خبر نهٔ دي چې د هر څومره ستونزو او خنډونو زغملو وروسته بيا هم حق ځان تر حقداره رسوي.

سلګۍ خپل نمجن بانه او ملالې سترګې د کوژدن پر لور ورسمې کړې، ژر يې د سکون ساه واخېسته:

باور وکه تاسره ناست بيا هم ستا انتظار کې يم.

دې يوځای والي ته مو څومره سختې وګاللې؟

دغه بغاوت هېڅ نه شو ليدلی؛ ځکه خو يې د ژوند لارې هم سختې اغزنې کړې وې.

له یو څه مودې وروسته چې سلګۍ ټېلېفون کې له خپلې بدې ورځې شکایت وکړ، ذیشان اړ شو چې مور ته د واده په اړه ووایي.
دا خبره چې کله د ذیشان تر پلار او ورونو ورسېده، له ډېرې غصې یې ترې د هغې بد قیمت وغوښت، چې ورور له لوري یې د سلګۍ دوی کورنۍ ته ورکړل شوی وو. ذیشان چې له یو دوکان پرته یې نور څه نه لرل، خپل ورور ته د وروړګلوی له حقه تېر شو. په کور او ځمکه کې له شته برخې خلاص شو.
د دې حق تېرېدنه د ذیشان مینه کې نه لومړۍ وه او نه هم وروستۍ. لا هم ډېر څه وو چې ذیشان یا پرې ایښي او یا یې هېر کړي وای.
د مینې جنازه د دغه کلي له ټولو اوسېدونکو وتلې وه، خو ذیشان د خپلې مړ ژواندې مینې ژوندي ساتلو پسې خپله د ډاکټرۍ چپنه اغوستې او د رغون خوارۍ یې کولې.
د ځوانۍ ډېرې ورځې - شپې یې سلګۍ ته په تمه تېرې کړې.
په سلګۍ هم د ذیشان محبت زور سم اور لګوو، نور یې د زړهٔ صبر بیخي په ختمېدو وو. د دغې مینې په سمندر کې یې د ډوبېدو له امله نوره ساه په وتو وه.
په کلکه دواړو پرېکړه وکړه، چې نور باید ګډ ژوند پیل کړي، خو د کورنیو له لوري شته خنډونو له امله سخت په تشویش کې وو. یو ماښام ذیشان د خپل پلار سربېره څو نور سپین ږیري دې ته چمتو کړل، چې د پرېکوڼ او لنډون لپاره د سلګۍ دوی کره ورشي.

هلته له تلو او د دغې موضوع له شریکولو وروسته د سلګۍ کورنۍ د نغدي پیسو سربېره دومره درنه خوړه او سامان کېښود، چې ذیشان څه چې کورنۍ یې هم له زوره نه شوه وتلی.

د دغو غوښتنو د پوره کېدو په هڅه به سلګۍ د پلار په کور سپین سرې او ذیشان به بې له چنغلې زوړ شوی وي.

د ډېرو لارو له ارزولو او څو وار د مشرانو له ورو‌ړلو وروسته بیا هم ذیشان په دې ونه توانېد، چې د دغې کېښودل شوې ناممکنې خوَړې او سامان د کمښت کوم څرک وویني. دلته د سلګۍ کورنۍ ضد راخیستې وه او همدا یې علت وو، چې یواځې سره زر یې پرې درې کیلو ایښې وو.

د ذیشان او سلګۍ زړونه سم لکه کاغذونه د دغه دود له امله سوځېدل، خو هېڅ یې نه شو کولی.

هر ځل بغاوتونه په زورونو نه کیږي.

د دوی بغاوت هم نورو زورونو ته اړتیا نه درلوده. په کار وو، چې په فکر سره مخکې تللي وای.

د دغو غوښتنو پوره کول په ماتو پښو مالاکنډ غره ته ختل وو. د مینې کیسه یې نوره په ورانېدو وه. دواړه په زړونو کې کورونو سره وران شول؛ ځکه کورنیو یې غوښتل چې د دوی د مینې جرړې هماسې په زړه کې وچې او یا پرې کړي، خو دا پرېکړه د وخت په لاس کې وه، چې د دود او که به د دوی د مینې دا غزېدلې جرړې پرې کیږي؟

ذیشان چې له دې ټولو هڅو سره – سره بیا هم د بریالیتوب څرک ونه لید، له سلګۍ یې مرسته وغوښته، خو د سلګۍ خپل ژوند کور کې د ذیشان د دفاع له امله دومره تریخ شوی وو، چې آن د مرګ په راتلو باندې هم راضي وه.

څو ورځې وروسته د سلګۍ يوه خور چې د ده همزاړه وه، په ډېرې وارخطايۍ د شپې په تاريکۍ د سلګي تر خونې راغله. سلګۍ ته په کتو يې له سترګو اوښکې روانې شوې. يو بل ته د لړو کتلو وروسته دواړه غاړه - غړۍ شوې، خو سلګۍ خبره نه وه چې خور يې د کوم نوي درد له امله دومره په انديښنه کې ده؟

هغې فکر کوو چې شايد دې سره د کورنۍ د غړو خبرې نه کول او يا بد سلوک يې خور دردمنده کړې وي.

خو داسې نه وه. د سلګۍ خور له سترګو د هغې درد له امله اوښکې روانې وې، چې د داسې خبرې په خبرېدو ممکن د ډېرو زړه د درد يوه څړيکه وکړي.

کورنۍ يې د سلګۍ او ذيشان دواړو د وژلو پرېکړه کړې وه.

خور يې له ټولو هغو پلانونو سلګۍ خبره کړه، چې ورونو يې د ده او ذيشان لپاره نيولي وو .

د دغو خبرو له خبرېدو سره سم سلګۍ ذيشان جريان کې کړ. هغه چې د کورنۍ له لوري يې کوم ملاتړ نه ليده، سلګۍ ته يې په څانته ځان ډاډګېرنې ورکولې.

خو له يو څه مودې وروسته يې چې ټولې لارې تجربه کړې، ذيشان له شاووتوب او سلګۍ پرته له ناوېتوبه په يوځايي ډول د کور پرېښودو ته اړ شول.

د سلګۍ په دولسم ټولګي کې ازموينې روانې وې، دواړو د ازموينو په وروستۍ ورځ له خپلو کورونو د مرګ له وېرې د تلو پرېکړه وکړه.

ذيشان او سلګۍ دواړو د خپلو کورنيو په غړو سترګې ګرځولې، خو د ډېرو ظلمونو او زور- زياتي له امله په زړهٔ او فکر کې د هېڅا داسې بنه نه ورتلل، چې له تګه وروسته يې په زړه کې ارمان پاتې واى.

سلگۍ خپلې هغې خور سره چې د زړه رازونه يې ورسره وو، له کوره د تلو په اړه وويل. که څه هم خور يې د ده پر تګ غمجنه او له سترګو يې د ډېرو اوښکو کډې بار کړې، خو دا چې م خور ژوندي پاتې کېدو او کورنۍ رغېدو لپاره يې بله لاره نه ليده، د خپلې خور له شوې پرېکړې يې ملاتړ وکړ.

د تاريخ او تهذيب دوه مضمونونو په وروستۍ ازموينې سلګۍ د خپل نکاح شوي نامزاد سره له کوره د تلو نيت وکړ. د شپې له مخې يې خپله ټوله خونه له سترګو تېره کړه. ګونګې خونې د سلګۍ د هجران له امله د غم سکوت اختيار کړی وو. په خاموشۍ خولې يې زړه کې ويرونه کول.

د خونې دغې خاموشۍ د سلګۍ زړه هم د دردونو په اورونو سېځه، خو هېڅ بله چاره يې نه لرله.

په دې شپه هېڅ خوب نه ورته. د خونې هره برخه يې د خدای پامانۍ په پار له سترګو تېره کړه. څو وار خو يې آن د چت لرګيو ته هم دانه - دانه په ځير وکتل.

د شپې تر ناوخته يې ذيشان سره د تلو او کوم ځای کې د پاتې کېدو پلانونه جوړ کړل. له وېرې او ډاره يې ټول بدن رېږدېده. له سترګو يې روانو اوښکو اننګي ورلامده کړل. هېڅ يې کور او د کورنۍ غړو پرېښودو ته زړه نه وو. له دې يادګاري خونې جدايي خو ورته بيخي ډېره ګرانه وه. اما بل لور ته يې چې د کورنۍ له لوري د خپل ژوند پر وړاندې تړلي بندونه ليدل، دا هر څه به ورته لکه اغزي ښکارېدل. دې اغزو يې نه يواځې ژوند ورتريخ کړی وو، بلکې زړهٔ به يې نور هم ورته سوری کاوه.

خپل ټول اړين وسايل يې د شپې له خوا راټول کړل.

د شپې له لږ خوب وروسته سهار په پړسېدو سترغلیو راپاځېده. له اودس، لمونځ او تلاوت وروسته یې د مکتب جامې واغوستې. بکسه یې د دوه جوړه جامو او د یو شمېر نورو مهمو شیانو سره یوځای خپلې اوږې ته کړه. له کوره یې د تل لپاره د تلو تکل وکړ. لکه څوک یې چې په لوی لاس ځان وژنې ته بیایي؛ پښو یې له کوره د گور لوري ته زور واهه.

په دغه بغاوت کې یې د ځان ترڅنگ د خپل جهان قرباني ته هم غاړه ایښې وه.

یو وړوکی ورور یې چې ډېر ورته گران وو، بار- بار ښکل کړ. له سترگو یې ورته اوښکې لاړې. دې کور کې یواځې همدا ماشوم او د سلگۍ یوه کشره خور وه، چې ورسره خبرې یې کولې. نورو ټولو له سلگۍ سره د خبرو له کولو پرهېز کړی وو.

له وتلو وړاندې یې خپلې رازدارې خور سره ښه شېبه وژړل. په ډېرې عاجزې لهجې یې خور ته مخ ورواړوو:

زه په ډېرو ورکو لارو ځم، خیر دی ما مه وبښه!

ما دې تل په فکر او دعاوو کې یاد ساته. ما مه هېروه. زه ستا خور او د دې کورنۍ غړې یم. له کوره تگ مې یواځې له مرگه وېره نه ده. په خپلې کورنۍ مې هم زړه سوځي، چې زما له امله پرې د قاتل نوم ونه تړل شي.

چادري یې په ډکو سترگو پرمخ راښکله او په ډک زړه یې لکه یو کالبوت په ژوندوني له کوره جنازه ووته. هغې د تل لپاره له خپلې خونې او پلارني کوره د وتو په موخه قدم وهل پیل کړل. څو وار یې شاته - شاته وکتل. زړه یې سم درزېده. پښو کې یې ساه نه وه. په زړه یې د وېرې او خفگان څپې خوړې وې. دې به بهر خو زړه به یې د

یادګارې خونې پر لور زور واهه. سلګۍ اوس له څانه پردۍ شوې وه. له نوې راختلې سپوږمۍ او یا د ژمي مازیګر ډېره ژر له کوره پناه شوه. دې ته اوس د کورنۍ غړي په ژوند کې اغزي ګرځېدلي وو. بیا به ستونزمنه وه، چې سلګۍ دغه کورنۍ خپله وګڼي.

هلته ذیشان هم خپل ټول اړین وسایل اخیستي او د سلګۍ د راتګ په تمه ولاړ دی. سلګۍ په نورو فکرونو ازموینه ورکړه. د دوی دا له لېسې د فراغت وروستۍ ازموینه وه، خو په سلګۍ بیا د دې ازموینو له خلاصېدو وروسته یو بل امتحان په پیلېدو وو. ټولګیوالو یې له یو بله سره په ډکو سترګو خدای پامانۍ کولې. سلګۍ چې په زړه کې یې د کورنۍ جدایۍ هم اور لګولی وو، هرې ټولګیوالې ته په غېږ ورکولو به یې زړه ته بې واره سلګۍ راغلې.

ټولګیوالو څخه د جدایۍ په پلمه یې ښه د زړه له تله وژړل.

ملګرې یې لا په لېسه کې وې. چا انځورونه اخیستل او چا د مکتب د تېرې شوې دورې کیسې کولې. سلګۍ په همدې ګرمو خبرو کې له لېسې ووته. ټاکلي ځای ته له رسېدو سره یې په ذیشان سترګې ولګېدې.

د ژوند په اغزنې لارې سلګۍ او ذیشان پرته له دې چې د واده په کولو خپل د زړه ارمانونه پوره کړي، په ژړغونو سترګو یې له کورونو د جدایۍ سختې ته خانونه ورکړل.

د خپلو ارمانونو د پوره کېدو په موخه نکاح شوې کوژدنې په یو نامعلوم لوري سفر پیل کړ.

په لومړي وار د کوژدن شوې جوړې دغه ډول یوځایي سفر بیخي دواړو ته عجیب وو. سلګۍ له وېرې سمه لړزېدله، خو د ذیشان داډګېرنې به یې زړه یو څه راحته کړ.

سلگۍ چې شپه یې په ژړا او ویښه تېره کړې وه، د سر خوړېدو له امله ذیشان ته د درد ستن د کولو غوښتنه وکړه، خو ذیشان چې سلګۍ پرې بې کچې ګرانه وه، نه یې غوښتل د ستن په درد دردمنده شي. د ستن پرځای یې ورته ګولۍ واخیستې او د خپل کور، کلي او ښاره یې سترګې پناه کړې.

هلته د سلګۍ دوی کور کې د سلګۍ نه ورتګ خلک ځکه نه وو وارخطا کړي، چې پوهېدل وروستۍ ازموینه ده. داسې انګېرله چې ممکن له ټولګیوالو سره د خدای پامانۍ له امله ځنډ شوې وي، خو نه پوهېدل چې سلګۍ ترې د تل لپاره سترګې پناه کړي.

ورځ په تلو - تلو کې مازیګري ته نږدې کېده. د کورنۍ یې هم وارخطایي زیاتېده، خو دا چې خبرې یې ورسره نه کولې، په پټه یې له یو بله د سلګۍ د نه راتګ په اړه پوښتنې کولې. ورو- ورو ګونګوسې ډېرېدې. د وارخطایۍ په ډېرښت کې یې کورنۍ هغې ګاونډۍ کره د سلګۍ خور ورولېږله، چې ورسره یوځای به ښوونځي ته تله.

که څه هم خور یې د سلګۍ له ترخې جدایۍ خبره وه، خو بیا هم د دې لپاره چې کورنۍ یې پرې شک ونه کړي، د ناخبرۍ په تمثیل یې خپل وړوکي ورور له لاسو نیولی ګاونډیانو کره لاړه.

هلته یې ملګرې هم وارخطاء شوه. له ډېره وخته یې لېسې څخه د سلګۍ له وتلو خلک خبر کړل.

بېرته کور ته په راتګ یې د دې خبرو په کولو زړه په درزېدو شو.

هر خوا به ورته سلګۍ لکه سیورې مخته درېدله.

د کورنۍ یې سلګۍ په اړه ټول شکونه په یقین بدل او د ذیشان د پیدا کولو په لټه شول، خو د ذیشان دوی کورنۍ بیخي ناخبره وه. هلته په تپوس کولو د ذیشان خور د خپل ورور خونې ته لاړه.

ورور یې نه وو، خو د واده لپاره په اخبستل شوي پالنګ یې پر سپین کاغذ د خور سترګې ولګېدې.

په حېرانۍ یې کاغذ له پالنګه د لوستلو په پار پورته کړ.

ذیشان خپلې کورنۍ ته څو جملې لیکل کړي وو:

دا لیکل زه ذیشان خپلې کورنۍ ته کوم. هیله ده چې په پراخې سینې یې یو وار تر پایه ولولي.

د ذیشان خور د لیکلو په لوستلو کې لا نوره ځیرکه شوه:

زه په فکري او جسمي ډول د دغې بې وفا کلي نه کډه کوم، خو په تلو سره مې دوه شیان پرېښودم.

لومړی مې له ځولانه دود څخه بغاوت او بل هم د خپلې مینې سره غیرت!

تاسې ممکن زما په دې وفا وژاړئ، خو ژړا به مو ما پسې نه وي. دا به ستاسې له دوده د بغاوت له امله وي؛ ځکه مور هغه پلان شنډ کړ، چې تاسې زمونږ د وژلو لپاره جوړ کړی وو .

ستاسو موخه له خپلو سترګو زمونږ پناه کول وو. دغه دی مونږ هم پرته له دې چې څوک قاتل شي، خپله مو خپل ځانونه ستاسې له سترګو پناه کړل.

کېدای شي خوښ شوي هم اوسئ؛ ځکه نه زه او نه هم زما سلګۍ ستاسې په سترګو ښه لګېدو.

تاسې ملامته نه وئ؛ ځکه ستاسې پرمخ له اسلامه لرې د بد دود داسې بدرنګه نقاب پروت وو، چې هېڅ مو د چا ژوند، زندګي او مجبوري نه شوه لیدی.

ستاسې د ټولو دې غاړې بندې وي، چې که به مو مخته زموږ لږ غوندې ښهٔ هم ودروئ. په تلو مو اوس خپلو زړونو ته زموږ هېڅ کوم ښهٔ کار او یا خبره مه راولئ.

که تاسې له خپلې کورنۍ د جدا شوي کس وروستۍ غوښتنه پوره کولی شئ، نو زه به دعا وکړم چې خدای مو له دغو ستونزو وباسه. زه له تاسې د کوم زَر او یا زور غوښتنه نهٔ کوم. یواځې همدومره چې دا لیکل شوی کاغذ مې د سلګۍ دوی کورنۍ ته هم وسپارئ؛ ځکه غواړم هغوی ته هم څو خبرې ولیکم:

ای زما د خوږې مېږمنې ترخې کورنۍ!

ستاسې د کورنۍ ټول خواږه سلګۍ ته او د سلګۍ ټول ترخه تاسې ته درغلي. دې خوږې خو ډېره هڅه وکړه چې مینه یې بدنامه نه شي، ځکه پر خپلې لمنې له تور داغه ډېره وېرېده.

دا اوس چې موږ هر څه وکړل، دا مو تاسې ته د مینې سبق درکړ.

سلګۍ زما د مینې حقداره وه؛ ځکه زما په نامه وه او دا یې حق وو، چې مې په سره جوړه کې لکه ناوې خپل کور ته راوستې وای، خو تاسو د خپلو دودونو او دستورونو په څېر قاتل فکر درلود.

ما خو خپله سلګۍ په پښتو، جرګو او مرکو راوستله. دا چې تاسې زموږ د وژلو او پناه کولو پرېکړه کړې وه. دغه دی درنه پنا شو. ستاسې کور کې به له دې وروسته څوک د سلګۍ په نوم هېڅانه غږ نشي کولی. په دغه کور کې مو د سلګۍ نوم او غږ دواړه خاموش شول. داسې خاموش لکه بیخي چې په دې نوم تاسې هېڅوک نه لرل.

اوس به د سلګۍ د بنګړو شور یواځې زما په غوږونو لګېږي. ځینې به مو په خوږو سترګو ترخه ګوري، خو هغه څه چې خدای مقرره کړې وي، تاسې یې په اړه د بدلون پرېکړه نشئ کولی.

یواځې په دې خبرې ډېر خفه یم، چې د دغه فکر له امله مو زموږ خام فصل وړاندې تر پخېدو د دود په لاره لـــو کړ.

زموږ د دغه بغاوت پر وړاندې د ظالم ضد په اړه به هم درته څو جملې ووایم:

ډېر قسمونه مو کړي وو، چې سلګۍ ته به په اسانه د ناوې په سترګه ونه ګورم، خو له دې وروسته به موږ اوس په خوله څه چې په سترګو کې یو بل ته خندېږو او خوښېږو، ستاسې د هېڅ دود له زوره به نه ډارېږو.

زه هېڅ په دې نه پوهېږم، چې په فکر او احساس کې به مو څه ګرځي، خو که چېرې زه ستاسې پرځای وای، ما به نه وای پرېښي چې په شرعي نکاح سره یوځای شوي د ژوند ملګري دې په دغه ډول ناهیلۍ له کور او کلي د تل لپاره کډه وکړي.

په پای کې غوښتنه کوم چې هېڅ زموږ په لټون خپل ځان مه ځوروئ؛ ځکه مرګ مو د ښتن په لاس کې دی او په ژوندوني مو له یو بله تاسې نشئ بېلولی.

د ذیشان دغه لیک دواړو کورنیو په قهرجنو او قاتلو سترګو ولوست. د بغاوتي کرښو او پېغورونو له امله په سختې غصې د سلګۍ او ذیشان د پیدا کولو لټون پیل شو.

د دوه مینو دغه یوځای والي او د دود شته والي له امله یې زړونه لکه د مالګې اوبه کېدل.

په دوو میاشتو کې دننه یې د ډېرو لګښتونو په کولو د ذیشان او سلګۍ درک پیدا او د وژلو په تکل یې د سلګۍ دوه ورونه پسې لاړل.

د دوی له تګه د سلګۍ خور خبره او په تُندۍ یې د ټېلیفون له لارې سلګۍ خبره کړه.

ذیشان او سلګۍ چې له وړاندې یې دغه ځای کې اوسېدو نه وېره لرله؛ په سختو سوچونو او تشویشونو کې ډوب شول، خو د مینې په بدل کې یې بیا په مال او ځان باندې هېڅ پروا نه وه.

کلي پردي وو. د سلګۍ وروڼو هم حکومتي چارواکو ته ښې ډېرې روپۍ ورکړې، څو دوی د سلګۍ او ذیشان وژنې ته پرېږدي.

هغه کارونه چې زر یې کوي، زور یې نشي کولی؛ ځکه ډېری شتمنۍ د ځان لپاره زورونه تابع ګرځوي.

بلها لګښتونه وشول، څو د ذیشان لاسونه د سلګۍ تښتولو په تور څولانه او په پټه د دواړو د مرګ لپاره تابیه ونیول شي، خو له وژلو وړاندې یې ذیشان سره ډېر حساب پاتې وو.

سلګۍ چې کله په دغې پلان خبره شوه، له همدې حکومتي ودانۍ یې غږ پورته کړ، چې په دې سره یې د خپلې کورنۍ جوړ شوی پلان بیخي په بل مخ کړ.

د هغوی په خبرېدو پر ذیشان جینایي تور د دواړو په حقوقي لانجې بدل شو؛ ځکه د سلګۍ کورنۍ د وژنې په هڅې له ناکامېدو وروسته په دې کوشش کې وه، چې ذیشان باندې د سلګۍ د تښتولو تور ورپورې کړي.

قضیه یې څه موده روانه وه، چې د محکمې پرېکړې ته خبره لاړه. د سلګۍ ضد اخیستې کورنۍ د پرېکړې واکدار قاضي ته له وړاندې بلها ډېرې روپۍ ورکړې، څو پرېکړه کې د دوی دواړو پرېکون وکړي.

د پرېکړې اورولو موده دوه ورځې وروسته وه. د سلګۍ دوی کورنۍ د دوی په جدایۍ بیخي ډاډه وه او پلان یې هم داسې نیولی وو، چې کور ته له وړلو وروسته به سلګۍ ته خواراکي توکو کې زهر اچوي.

د پرېکړې ورځ راغله. د سلګۍ کورنۍ د شویو تاوانونو له امله ډېره تلوسه نه درلوده، ځکه چې د دواړو پر بېلتون یې پوره باور درلود. له همدې امله یې د هغوی د وژلو لپاره پر پلانونو کار کاوه.

د سلګۍ له کورنۍ شل کسه په پوره غصې د محکمې لور ته روان شول.

هاخوا د ذیشان له کورنۍ هم شل تنه په ډېر قهر راغلل. که څه هم دوی باید له ذیشانه دفاع کړې وی، خو د دود او ضد له امله دوی هم له ذیشانه د نکاح کړې مېرمنې د جداوالي غوښتونکي وو. وخت پوره او دواړه کورنۍ له دوده د بغاوتي کړنې له امله د محکمې لپاره تالار ته حاضر شول.

قاضي راننوت او ځان یې پورته تر خپلې څوکۍ ورساوه.

د مدافع وکیلانو له لوري د بحث او مباحثې په ترڅ کې د سلګۍ دوی کورنۍ په دې بریالۍ شوه، چې پر ذیشان د سلګۍ د تښتولو دعوه ثابته کړي.

د دې دعوې ثابتېدو سره باید ذیشان د اختطاف په تور تر شپاړس کالو زندان کې تېر کړي وای، خو د ذیشان موکل د دغې دعوې ردولو په موخه د سلګۍ د حاضرولو غوښتنه وکړه. څو دقیقې وروسته چې قاضي په دوسیو کې لړې ګوتې ووهلې، تالار ته یې د ذیشان او سلګۍ د راوستو غوښتنه وکړه.

دا چې سلګۍ په ښځینه او ذیشان په نارینه توقیف ځای کې ساتل کېدل، یو له یوې او بل له بلې غاړې محکمې ته د حاضرولو لپاره روان شول. د ذیشان لاسونه څولانه، خو سلګۍ همداسې د یوې ښځینه پولیسې له لوري نیول شوې روانه وه.

کله چې له لرې د سلګۍ سترګې د ذیشان پر لور ولګېدې، بالکل بې اختیاره شوه. د ذیشان په لاسونو کې د څولنو په لیدو یې زړه باندې سم اور په لګېدو شو. په سترګو یې توره شپه شوه.

د برېښنا پړک په څېر یې سترګو برېښ وکړ. زړه یې ورېږدېد.

په محکمه او تالار کې شته خلک یې بیخي له پامه وغورځېدل. هېڅ یې ځان کابو کولی نشو. بې واکه یې د قاضي او ټولو خلکو پر وړاندې د ذیشان پر لور ورمنډې کړې. د رسېدو سره سم یې ذیشان په غېږ پورې د ټولو مخکې ټینګ ونیوو.

له قاضي تر چپړاسي پورې ټول د حېرانۍ له امله ګوته په غاښ شول. د سلګۍ د کورنۍ خو پوښتنه مه کوه؛ ځکه هغوی خو پر ذیشان د سلګۍ د تښتولو دوسیه روانه کړې وه.

قاضي هم د پیسو له امله په کېدونکې پرېکړې د بیا فکر غور پیل کړ. د ذیشان پر لور د سلګۍ دغې ځغاستې ټول جوړ شوي پلانونه له خاورو سره خاورې کړل. له کورنۍ یې هم لاړ ورکه وه؛ هر یو پر خپل - خپل فکر اخته شول.

دغه حالت او د سلګۍ له لوري د مینې جرئت د قاضي پلان شوې پرېکړې بنه بیخي بدله کړه، خو د دې ټولو سره - سره بیا هم ذیشان ته د سلګۍ کوژدن کېدل او نکاح باندې سترګې پټې شوې.

قاضي په ډېرو لارو فکر وکړ. یواځې دومره یې د پیسو په بدل کې وکړل، چې پر شرعي نکاح یې سترګې ورته پټې کړې.

دا چې زموږ قانوني مذهب حنفي دی، نو اړ شو چې حالت ته په لیدو پر پیسو د دوی د خپلوۍ مسله رد، خو نوره قانوني مسله مخته کړي:

قانوني پرېکړه یې وکړه، چې:

(( د اسلام له مخې د امام ابو حنيفه رحمة الله د مذهب په فقه کې د هلك او نجلۍ حالت ته کتلی شي. که دواړه مجردان وي، د نکاح په موخه تللي او شرعاً يې نکاح سره تړلې وي، نو مېړه او ښځه دي، د هېچا پرې کار نشته.

ځکه د امام ابو حنيفه رح د مذهب له مخې د نجلۍ لپاره په نکاح کې د ولي شرط اړين نه دی، بلکې مستحب دی. کله چې کامل اهليت (عقل، په خبرې پوهېدل، او بلوغ) ته ورسيږي، نو د خپل ځان د نکاح کولو واک لري.))

د قاضي دې خبرې چې د رضايت په شتون کې يې جدايي ستونزمنه ده؛ د سلګۍ او ذيشان دود پالونکې کورنۍ لا نورې غوصه کړې. دواړو کورنيو د نفرت لپاره لاسونه سره يو کړل او په يوځايي ډول يې د دغې جوړې د جدايي هڅې په بله بڼه پيل کړې. قاضي بيا هم د اخيستو پيسو له امله دواړو ته د متوسط حبس سزا واوروله.

په دغه مينه کې د شته دود له امله دغو بغاوت کوونکو داسې کړاوونه او تکليفونه تېر کړل، چې په خوب کې يې هم تصور نه شو کولی.

له لږې مودې وروسته چې سلګۍ د امن کور ته بوتلل شوه، هلته يې د ځان د دفاع او ملاتړ ځرک وليد. زړه يې يو څه ډاډه او خپلې ټولې ستونزې يې هغوی سره شريکې کړې.

بلاخره د دواړو د بند موده پوره شوه. له خوشې کېدو وړاندې يې کورنيو څخه له دې امله تضمين واخېستل شو، چې يې ژوند ته کوم خطر پېښ نه کړي. د سلګۍ لپاره خو لا د امن کور مسوولينو هم د دفاع غږ پورته او ډاډ يې ورکړ، چې وخت ناوخت به يې ستونزو ته د رسېدو په موخه احوال اخلي.

کورنیو یې بیا ځل د یو څه رشوت په ورکولو د کور کلي شرم مخته کړ او په دې پلمه یې خپلو - خپلو کورونو ته د دوی د ورلو غوښتنه وکړه، چې له هغه ځایه به یې عزت سره ور ودوي.

که څه هم د دې جوړې دا غوښتنه خوښه نه وه، خو پیسې زوروړې او دواړه یو ځل بیا لکه پخوا سره جلا- جلا خپلو پخوانیو کورونو ته لاړل.

کورونو ته په تلو ورته ټولو خپلوانو په ډېرو تحقیري سترګو کتل، خو دا چې هلته ژمنې او ضمانتونه اخیستل شوي وو، له دې وېرې چې ټول ژوند یې د زندان تمبو ترشاه نشي، چا یې د وژلو هڅه نه شوه کولی.

د زورونو له ازمایلو وروسته د ذیشان او سلګۍ کورنۍ دغې بغاوت سم په زړه رنځوران کړل.

کورنیو په نرمۍ د خپلو اولادونو پوهولو او له دې نکاح څخه د تېرېدلو غوښتنه کوله. پلار یې سلګۍ ځانته کېنوله او غوښتنه یې ترې وکړه، چې له دغې کورنۍ سره دې له ژوند تړلو لاس واخلي. د غوښتنې په منلو سره به یې پرته له ذیشانه هر هغه چاته ورکړي، چې د سلګۍ خوښه وي.

د دغو خبرو وروسته چې پلار یې د مثبت ځواب اورېدو لپاره ځان بیخي ډېر متوجې کړ، سلګۍ ورته دلایل ویل او قناعت ورکول شروع کړل.

د دود له برستنې دغو پښو وېستونکو څېرته منله؟

د خو خبرو له تبادلې وروسته چې د سلګۍ پلار له وړاندې ډېر غوصه وو، لا نور غصه او په یوې کلکې څپېړې یې د سلګۍ له مخه شرک بېرته کړ. هېڅ یې خپله غصه کنټرول نه کړای شوه. وار پسې ګوزار کې یې کورنۍ د حکومت، قانون او ضمانت له وېرې د خلاصون په پلمه مخته شوه.

سلګۍ ته په جدیت سره وروستۍ خبره وشوه، چې د غوښتنې نه منلو په صورت کې باید له خپلې ټولې کورنۍ سره اړیکه ختمه او له کوره ووځي.

دوی د مینې له امله خپل ژوند پر اوبو وړی ګڼلی وو. له وړاندې یې له خپلې حافظې د دوی یادګارونه پاک کړي وو. یو عالم دردونه او غمونه یې لا هماغسې په زړه نبغ لکه ستن ولاړ وو، خو بیا یې هم کور پرېښودو ته زړه نه کېده.

تېر ځل تګ له امله یې راتلونکي کې د ګاونډ او همزولو پيغورونه، بل لور د کورنۍ غړو له لوري بد سلکونه هغه څه وو، چې له امله یې کور کې د سلګۍ پاتې کېدل ډېره سخته خبره وه. یو خوا د نکاح شوي خاوند پرېښودل او بل لور ته د خپلې ټولې کورنۍ بیا ځل ترک کول.

سلګۍ د هغه څه له رامنځته کېدو وېرېدله، چې د سپېڅلي خدای هم نه خوښېږي، نو ځکه یې خو وار د دغې غوښتنې ټينګښت سره بیا ځل د کور د ترک کولو پرېکړه وکړه. د ژمي نري باران ټوله ځمکه ختې کړې وه. سلګۍ چې په خپلو اوښکو یې زړه کې د ارمان ډېوې لګولې وې، بیا ځل یې د کورنۍ ټولو غړو پر وړاندې د کور پرېښودو په موخه د دروازې پر لور قدم وهل پیل کړل.

د سلګۍ د ورونو په زړونو کې وینې په جوش وې، د سلګۍ دې پرېکړې له امله یې د هغې د لمنځه وړلو لپاره زړه کې وینو لمبې کولې، خو دا چې هلته یې لوی ضمانتونه ورکړي وو، هېڅ یې له وسې پوره نه

وو. سلگۍ له دروازې بهر د ژمي نري باران ته بې اسرې ودرېده. زړه کې يې د راتلونکي په اړه کرل - رېبل کول.
له ودرېدو يې نيم ساعت نه وو تېر شوی، چې ذيشان ورته پيغام وکړ:
ای گرانې زه خو مې کورنۍ له کوره وشړلم. د دوی ټولې هغه خبرې دروغ وې، چې تا به ماته او مابه تاته سپارې. ماته يې يو لور ته تهٔ او بل لور ته زما خپله کورنۍ کړه. له ما يې غوښتنه کوله، چې تاته بايد طلاق درکړم، خو د دې غوښتنې په نه منلو سره يې زه له خپل کوره وويستم.
سلگۍ په ژور خفگان کې بيا هم دغې تصادف ته نرۍ مسکاه وکړه.
ذيشان ته يې زنگ ووهه.
د ټيليفون په پورته کولو يې چې د ذيشان له خفگانه ډک غږ واورېد. د هغه د مسکا په موخه يې لږه مسخره وکړه او څو وار يې ورته د ويشش بېچاره کليمې وکارولې، خو له څو جملو خبرو وروسته يې ورته خپل حال بيان کړ:
ذيشان!
د دواړو زړونه په يو حالت کې دي. زه مې کورنۍ له تا نيم ساعت وړاندې ويستلې يمه!
باران لمده - خيشته کړم. راشه چې له يخنۍ نه مې ټول بدن لړزېږي!
ذيشان لومړی حېران خو وروسته يې د سلگۍ فکر ښه والي لپاره د تېرو مسخره يي خبرو تکرار وکړ. لږه شېبه هماغه ويل شوي الفاظ بېرته ورتکرار کړل.

په فولادي غرونو ختل او د سرو شګو پر دښتو مزلونه داسې اسانه خبره نه وه، خو دوی د يو بل زړه خوش ساتلو لپاره دغه مسايل بيخي له خپلې مخې لرې ساتل.

د بغاوت د بريالي کېدا هنګامه جوړه شوه. ذيشان يو وار بيا خپله نکاح شوې مېرمنه خړه - پړه بې سينګاره د خسر له کوره روانه کړه. په چابکۍ سره يې سلګۍ خپلې هماغې ترور کره بوتله، چې د دوی د يوځای والي نقطه ګرځېدلې وه، خو دا چې د ذيشان پلار ټولو خپلوانو ته ګوانښ کړی و، چې دوی به کور کې نه پرېږدي،ترور يې ډېره وېرېده. ډېری وخت به سلګۍ پټه يوې خونې کې ناسته وه، خو ذيشان ډېر ژر يو کرايي کور پيدا او همالته دوه په دوه د ژوند تېرولو په موخه لاړل.

د سلګۍ پلار له کرايي کوره د خبرېدو سره سم په جدي بڼه له هغه کس نه د دوی د وېستلو غوښتنه وکړه.

په ذيشان چې د کور والا له لخوا ځمکه ګرمه او کړۍ راتنګه شوه، د خياطۍ دوکان چې په تلو کې يې خپلو شاګردانو ته سپارلی وو، اوس يې د خرڅولو پرېکړه وکړه. د سلګۍ دوی کور ته مخامخ يې يو څه فاصله کې له خسرګنۍ پټ څلور بسوې ځمکه واخېسته او پرته له دې چې دا يې چارې سمبال کړي، د خياطۍ يو شاګرد يې په مزدورۍ ورته ونيوو.

په ډېرې چټکۍ يې کور ترسره او د ځينو لوازمو په اخېستو سره يې سلګۍ د نوي کور مالکه کړه.

خسرګنۍ يې لا په اړه خبره نه وه.

د نجونو ډلې پر لار د ذیشان په لیدو سلګۍ مخته ودرېده، د سلګۍ یوې ملګرې بله په خنګل ووهله، چې بغاوتي خیاط لالا ته دې پام دی؟

څو ورځې تېرې شوې. ذیشان په هماغه خپل دوکان کې وو، خو اوس یې د مالک په څېر نه، بلکې د یو کاریګر په څېر کار کاوه. د لرونکې حیا له امله به کلي کې د خسرګنۍ له کورنۍ پناه ګرځېده.

ذیشان دوکان وبایله، خو شوی بغاوت یې تر بریا ورسو. خپله مېرمنه یې وګټله.

موده وروسته یې خسر پر خپل بام د پتاوي لپاره وخوت. له بامه یې یو نوی جوړ شوی کور په نظر راغی، چې د دروازې پر سر یې لیکل هم شوي دي.

لیکل یې د واټن له امله سم ونه شو لوستلی، ورته سودا یې شوه. خپل یو زوی یې راوبله، چې لیکل ورته ولولي.

هغه د راتګ سره سم د کرښو په لوستلو د حېرانۍ مسکا وکړه، پلار ته مخاطب شو:

پلارجانه دا کور راته زموږ د سلګۍ ښکاري؛ څکه لیکلي یې دي:

**د مینانو جونګړه!**

**د دود له پولو یاغي د نالیدو مینانو ګډ کور**

**پای**



https://t.me/saraablibrary

روغانیوال

خپرندویه ټولنه/ ننګرهار - افغانستان

0794004029 - 0787830302

فیسبوک پاڼه: روغانیوال خپرندویه ټولنه